بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

*زړه ته رانږدې مشرې لور ثریا نیلوفر جانې ته چې په انګلستان هېواد کې د ساینسي علومو محققه او مدرسه ده!*

# نوي رياضيات

# 8

# دويمه درجه افادې


ليکوال: پيمان گردلو

ژباړنه: استاد پشتون گل رسولي

پته: آسمايي واټ، سعيد خپرنځی، کابل - افغانستان

اړيکه: 0707575935 او 0788100157

Email: Shirahmad_saedy@yahoo.com

**کتاب پيژندنه**

• **کتاب**: دويمه درجه افادې

• **ليکوال**: پيمان گُردلو

• **ژباړنه**: استاد پشتون گل رسولي

• **کمپوز او ډيزاين**: انجنيرمحمدافضل ذاکر او انجنير عبدالوهاب همت

• **علمي ايډيټ**: پوهاند ډاکټر محمد انور غوري

• **ژبنی ايډيټ**: انجنير عبدالباقي سلطاني

• **له اصل سره د فورمولونو پروف کتنه**: انجنيرعبدالوهاب همت، انجنير محمدافضل ذاکر، انجنير عبدالباقي سلطاني، انجنير تاج محمد جاهد، کاشف وردگ، وارث سمسور، اميد زرغون، عصمت وردگ، جاويد نعمتي

• **خپرندوی**: سعيد خپرنځی، • **چاپځای**: سعيد

• **شمېر**: 1000 ټوکه، • **چاپ وار**: لومړی، • **چاپ کال**: 1397 لمريز

• **کچه**: وزيری، • **صفحې**: 204 صفحې

**بيه**: **220** افغانی

د چاپ او خپراوي ټول حقوق: بيا ليکنه، چاپ، تکثير او کاپي د ژباړنې په اجازه له سعيد خپرنځي او زرغون څېړنې او ژباړې مرکز سره دي، په دې باب هر ډول بې اجازې تصرف قانوني څېړل کيږي.

## یادښت

غرب یو مهال د طبیعي علومو ترجمه کوله او په دغه علمي حوزه کې یې ځکه پیداوار نه درلود، چې کلیسا د غربي فکر واګی په لاس درلـود، خلک یې له طبیعي څېړنو، معنوي افراطیت تـه قیـزه کـړي وو، حتـی د تجربي علومو له لورې نـوي عرضـه شـوي مفـاهیم بـه چـې د کلیسـا لـه موخو سره په ټکر کې وو، کتمان کېدل او څرګنـدونکي بـه یـې پـه عـام محضر کې وژل کیدل؛ یعنې د بکر فکر جرأت او په طبیعي علومـو کـې تصرف په مرګ منتهي کیده. د کلیسا مسـتبد فشـارونو خلـک پـه تنـګ کړل، چون فشار فاصلې له منځه وړي، نو د کلیسـا پـر وړانـدې مردمـي پووالی(انقلاب) رامنځته شو؛ د انسـاني علومـو یـو اصـل دی وایـي «هـر افراط تفریط او هر تفریط افراط زیږوي»، نو د کلیسا افراطي چلن باعث شـو چـې غـربي انسـان لـه دغـه علمـي انقـلاب (رنسـانس) وروسـته پـه معنویاتو کې له تفریطه کار واخلي او مادي برخه کې افراط وکړي.

افغانستان هم په طبیعي علومو کې چندان سابقه نلري، حتی په دغـه شق کې د سلکلن تاریخ مدعي نه ګڼـل کیـږي، ددې لپـاره چـې افغـان انسان په دغه علمي برخه کې موزون او غیرافراطـي ګامونـه واخـلي، نـو د ښاغلي احمدفهیمسپینغر په مشرۍ مـو پـه ۱۳۸۸ کـال کـې زرغـون د څېړنې او ژباړې مرکز ایجاد کـړ، د زرغـون لیـدلورۍ پـه افغانسـتان کـې د ساینس فرهنګ او زرغونې انرژۍ وده ده، چې د ساینسي کتـابونو، رسـالو او مقـالو ژبـاړل، پـه ساینسيـ موضـوعات څېړنـې کـول، د سـیمینارونو او کنفراسـونو تـدویرل مـو کـاري لومړیتوبونـه وو، مـوږ لـس ګونـه ساینسيـ کتابونـه وژبـاړل او لـه دې سره جوخـت مـو د افغانسـتان پـه تـاریخ کـې د لومړي ځل لپاره «افغان طبیعي علومو ټولنه» چې د افغـان سـاینسپوهانو لپاره د راټولیدلو ځای دی ایجاد کړه، هوډ لرو چې ددغه هلوځلو په پایلـه کې افغانستان د طبیعي علومو او تکنالوژۍ په تولید کې برخـه واخـلي او له مصرفـي حالتـه راووزي. لـه ټولـو هغـو فرهنګپـالو پـه ځـانګړي ډول لـه شیراحمد سعیدي، حـاجي نـذیر خروټـي او انجنیـر عبـدالباقي سـلطاني څخه مننه کوم چې فرهنګي چارو ته ځانګړې پاملرنه کوي.

**انجنیرمحمدافضلذاکر**

**د زرغون څېړنې او ژباړې مرکز مشر**

## د ژباړنې خبرې

ستاسې مخې ته پروت کتاب د رياضي د لړۍ يوه کړۍ ده، د دغه يوويشت ټوکو لړۍ کتابونه په ترتيب عبارت دي له: سيټ، توان، الجبري افادې، الجبري مطابقتونه، د الجبري افادو تجزيه، جذر، لومړۍ درجه افادې، دويمه درجه افادې، نامساوات، د پولينومونو تقسيم، دکارتي هندسه، مثلثات۱، مثلثات۲، مطلقه قيمت، زينه‌يي تابع(صحيح جز)، لوګارتم، تابع، ليمټ، متماديت، مشتق او د مشتق کارونې څخه. دغه لړۍ د رياضي ټولو شايقينو ته ده چې په لوست سره يې په رياضي برخه کې هر ډول ستونزه حل کېدلی شي.

کابو ديرش کاله مې د رياضي او فزيک تدريس کړی، ډېری وخت بـه د ديپارټمنټ همکارانو راته کړل: «شاګردان په رياضي کې غبي دي، نه پوهيږو څه ورسره وکړو». په دې هکله له فکر وروسته مو درک کړه چې ستونزه په شاګردانو کې نه ده بلکې د دغه ستونزې لمن پراخه ده او نور ډېر فکټورونه په ځان کې لري. موږ شايد کله هم فکر نه وي کړی چې درسي نصاب څومره د زده کوونکو له اړتياوو سره سم جوړ دی؟ شايد پام مو نه وي شوی چې څرنګه درسي پلان جوړ کړو ترڅو له رياضي سره د زده کوونکو مينه زياته شي؟ شايد موږ معلمينو کله هم خپل سر ګريوان ته نه وي کړی او له ځانه مو نه وي پوښتلي چې ايا زما د تدريس طريقه سمه ده، که نه؟ نو بناً ويلی شو چې که شاګرد رياضي نشي- زده کولی بايد له شاګرد سره جوخت، درسي نصاب، درسي پلان او د خپل تدريس طريقه هم وارزوو.

رياضي هغه وخت ښه تدريس کېدلی شي چې د نصاب کارپوهان درسي نصاب د ښوونکو سره په مشوره او د شاګردانو له ورځنيو اړتياوو سره سم جوړ کړي. ښوونکي بايد درسي پلان او د تدريس طريقه د شاګردانو په خوښه وټاکي داسې نه خدای مه کړه له يوې خوا د رياضي محتوايي وچوالی او له بل لوري د ښوونکي نامناسبه درسي طريقه باعث شي ترڅو ابداً له رياضي څخه د شاګرد زړه تور شي. اصولاً په ټوله نړۍ کې دا باب دی چې د يوې برخې کارپوه په خپله کاري حوزه کې له کلونو کار وروسته په ليکلو يا ژباړلو پيل کوي. زه هم د رياضي او فزيک برخې د متقاعدې استادې په توګه هڅه کوم چې مناسب متنونه په رياضي او فزيک برخه کې را وژباړم ترڅو د درسي موادو له درکه د شاګردانو او ښوونکو ستونزه تر يوه بريده حل شي. د اوس لپاره خو د رياضي دغه لړۍ وګورئ، که عمر باقي و، نورې هڅې به هم کوو.

**کاميابي مو غواړم**

**پشتون ګل رسولي**

## سریزه

له مهربان خدای څخه منندوی یم چې په ډېر صداقت، تمایل او پرته له ریا مې علم پالو کسانو ته یو څه خدمت وکړ.

هڅه مې کړې چې کتاب له گونگوالي او اغماضه خالي وي، خدای وکړي زموږ دا هڅه د علمي ټولنې د منلو وړ وگرځي.

د ټولو استادانو او په ځانگړي توگه د «نسل نو اندیش» خپرنځي مسؤل ښاغلي بېژن علیپور څخه مننه کوم چې په دې برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې، ارامه او کامیاب ژوند ورته غواړم.

**پیمان گردلو**

**ژمی ۱۳۸۵**

## د دغه لړۍ په هکله څو خبرې

د پيمان گردلو، د رياضي مسلسل او مهم يوويشت ټوکه کتابونه په لاندې ډول دي:

1. سيټونه
2. توان
3. الجبري افادې
4. الجبري مطابقتونه
5. د الجبري افادو تجزيه
6. جذر
7. لومړۍ درجه افادې
8. دويمه درجه افادې
9. نامساوات
10. د پولينومونو تقسيم
11. دکارتي هندسه
12. مثلثات (لومړی ټوک)
13. مثلثات (دويم ټوک)
14. مطلقه قيمت
15. زينه‌يي تابع
16. لوگارتم
17. تابع
18. ليمټ
19. متماديت
20. مشتق
21. د مشتق کارونې

د رياضي دغه لړۍ د ښوونځيو لپاره د مرجع حيثيت لري او په رياضي برخه کې د لوړو زده کړو لپاره بنسټ جوړوي. په دې کتابونو کې ټول مباحث په خورا دقت او د جزئياتو په پام کې نيولو سره تر بحث لاندې نيول شوي او ټول موضوعات د بې ساري او بېلابېلو مثالونو په بيان سره بدرگه کېږي.

ددغه لړۍ ټول کتابونه گرانې خور استاد پشتون‌گل رسولي له فارسي څخه پښتو ته په پخو ادبياتو او خوږو عباراتو په برياليتوب سره ترجمه کړي. بې له شکه دا لوی کار د گران هېواد د ځوان نسل لپاره ستر خدمت او د وطن دوستۍ صريح نښه بلل کېږي.

د الله پاک څخه د استاد لپاره د نورو برياليتوبونو هيله من يم.

**پوهاند ډاکټر محمدانور غوري**

**د کابل پوهنتون د رياضي پوهنځي رئيس**

## یادښت

تاریخ راته وایي چې هر ډول ټولنیز-اقتصادي تحول د مادي وسایلو له تحول سره کلک تړلی دی. بلخوا، غوښ اکثریت مادي تحولاتو کې فزیک فعاله ونډه لرلې ده، یعنې فزیک د معاصر انسان په نړۍلید کې اساسي نقش لوبولی.

هېڅ علم له فلسفې سره دومره اُرګانیکه اړیکه نلري لکه فزیک یې چې لري. پخوا زمانو کې به دیني حلقاتو ته منسوب بنيادمان د فزیک له ودې بېریدل، ځکه فزیک نړۍ هغسې معرفي کوي څرنګه چې ده. د هغه وخت دخلکو دغه بېره د فزیک په فلسفي بُعد دلالت کوي، اما په فزیک کې د نسبیت، کوانتم او سترینګ تیوري منځته راتلل په مطلق ډول فزیک د فلسفې د جز په توګه تائید کړ.

بالمقابل د فزیک د محصل په توګه په دې باوري یم چې په قاطع توګه د فزیک په وده کې ریاضي اساسي نقش درلودلی او لري یې. که موږ د فزیک هرې برخې ته ځېر شو نو ریاضي به پکې ووینو. ځکه د طبیعت ټول اجزاء یوه بل پورې اړوند دي او د اجزاوو دغه اړیکه د تابع په مرسته ښودل کېږي تابع او د تابع اجزاء(لیمت، مشتق او انتیګرال) د فزیک کُلیات جوړوي.

اوس که څوک د بشري تحول په هکله ګړابي نو باید د ریاضي-فزیک په نقش او کارکړو بلد وي، تر څو په سمه توګه د بشري ارتقا او اقتصادي-ټولنیزو مناسباتو وړاندوینې وکړلی شي. یا که څوک له فلسفي مباحثو سره مینه لري او فلسفه کې دننه تلل غواړي نو باید د ریاضي-فزیک په اساساتو پوه وي، کنه نو سفسطې به غږوي. یا که څوک د تکنالوژۍ ماهر کېدل غواړي نو باید چې ریاضي-فزیک ته په کمه سترګه ونه ګوري.

کله چې محصل وم په ساینس برخه کې د درسي وثایقو پسې به لالهانده وم. معتبرې علمي منابع به کمي یا اصلا نه وي ځکه خو مو د احمدفهیم سپین‌غر په مشرۍ په دغه علمي حوزه کې د یو لړ علمي کارونو د ترسره کولو هوډ وکړ. د دغو هڅو لړۍ دا ده نن د ریاضي برخې د دایره‌المعارف چاپېدو ته را ورسېدله. د ریاضي دغه جامع لړۍ چې ستاسې په لاس کې ده، آغلې استاد پشتون‌ګل رسولي ژباړلې، تر کومه ځایه چې مې ژباړه لوستې موزونه او متوازنه ده. اصل کتاب کې هم د موضوعاتو تسلسل تر ډېره رعایت شوی، خو له دې چې د دایره‌المعارف یا مرجع حیثیت لري، نو ځینې ځایونو کې ځینې موضوعات تر وخت د مخه هم راغلي. خو په ټوله کې دغه لړۍ ټولو زده کوونکو، محصلینو او د ریاضي مینه والو ته ګټوره تمامېدلی شي، ویې پېرئ، زده یې کړئ او ورزده یې کړئ.

**تاسې جار شم**

**انجنیر مطیع الله هوتک**

**د افغان طبیعي علومو ټولنې مؤسس**

**۱۳۹۶-۱۲-۱۵ سه شنبه د شپې یوولس نیمې بجې**

## رياضي د علومو مبادي ده

هنر له کيفيت سره او علوم له کميت سره کار لري، يعنې کله کله يو فرد شعر نسبت يوه اوږد شعر ته ډېر تاثير لري، ځکه شعر هنر دی او په هنر کې اصل، کيفيت دی نه کميت. بالمقابل دوه ماليکوله هايدروجن له يوه ماليکول اوکسيجن سره يو ځای کېږي اوبه جوړوي، دلته بحث د اوکسيجن او هايدروجن د ماليکولونو پر کيفيت نه، بلکې پر کميت يې دی. يعنې له دريو ماليکولونو هايدروجن او څلور ماليکولونو اوکسيجن څخه هېڅکله اوبه نشو ترلاسه کولی. ځکه خو وايو هنريت له کيفيت او علميت له کميت سره تړاو لري او د کميت بيان يوازې د رياضي په مرسته شونی دی.

بناً کله چې د علومو اساس کميت وي او د کميت بيان د رياضي په مرسته ممکن وي، خود به رياضي د ټولو علومو مبادي ګڼل کېږي. رياضي ته ځکه د علومو مبادي وايي، چې پرته له هغې د نورو علومو حصول ناممکن دی. په انجنيرۍ کې د کانال ميل يا د سړک ميل د تانجانت په مرسته معلوموي او تانجانت د رياضي موضوع ده. په برق-فزيک کې وايي کله چې مقاومت زياتيږي، امپير کمېږي د امپير او مقامت دغه رابطه د معکوس تناسب په ذريعه ښودل کېږي او معکوس تناسب د رياضي مبحث دی. په کيميا کې غلظت مساوي کېږي په (د هايدروجن د شمېر-منفي لوګارتم)، لوګارتم هم د رياضی بحث دی. ان سوداګري هم د رياضي په مرسته کېږي، تخفيف، د ګټې فيصدي او کميشن د رياضي په مرسته معلوميږي. يعنې که يو انجنير په تانجانت نه وي پوه، ميل نشي معلومولی. همدارنګه که د فزيکپوه تناسب نه وي زده، د امپير او مقاومت اړيکه نشي ښودلی او که د کيمياپوه لوګارتم نه وي زده، غلظت نشي معلومولی. او يو سوداګر په حساب د نه پوهېدو له وجهې ممکن موفق سوداګر ونه اوسي.

اوس نو که څوک علومو ته لاسرسی غواړي، نو لومړی دی رياضي په اساسي توګه زده کړي. د رياضي د زده کړې لومړی شرط معتبرو منابعو ته لاسرسی دی، له نيکه بختـه ستاسې په لاس کې د رياضي دغه يوويشت ټوکه لړۍ چې آغلې استاد پشتون ګل رسولي، پښتو ژبې ته ترجمه کړې، متعلمينو او محصلينو ته د يوې مؤثرې او معتبرې مرجع په توګه واقع کېدلی شي. ارزو لرم، دغه لړۍ بار بار ولولۍ او مثالونه يې له ځانه سره تکراراً کار کړئ په دې توګه به مو د ټولو علومو الفبا زده کړې وي.

**انجنيرغلامنقيبرسولي**

**د اوبو او برېښنا وزارت متقاعد انجنير**

## رياضي (د کائناتو ژبه)

څلور پېړۍ مخکې (1610 کال کې)، کله چې ګالیله څرګنده کړه چې ځمګه د لمر په چاپېر چورلي، نو د کايناتو ژبه يې رياضيکي ژبه وبلله او مثلثونه، دايرې او نور هندسي شکلونه يې د دې ژبې توري وبلل. ګاووس رياضيات "د علومو ملکه" بللې. په 2010 کې معاصر رياضيپوه، "پروفيسور ډيو سوټ وې" وويل: "يقيناً تلسکوپونه او مايکروسکوپونه، کتنې او تجربې يو نقش لري چې بايد و يې لوبوي، خو زه باور لرم چې د معاصر ساينس تر شا اصلي چلوونکې قوه رياضيات دي." د دې خبرو او د ورځني پديدو پر بنسټ ټول د رياضياتو پر اهميت پوهېږي او انکار ترې نشي کېدلی. خو پر دومره ستر اهميت سربېره موږ په دې برخه کې د نورو برخو په څېر تر هر څا خوار يو. ځکه نه په نورو ژبو پوهېږو او نه په خپلو ژبو کافي مواد لرو.

د پوهنتونونو د محصلينو تر ټولو ستره ستونزه له درسي موادو سره ده. کله چې محصل وم، تقريباً ټول کتابونه مو په انګلسي وو، خو زياتره محصلين يا خو په انګليسي نه پوهېدل يا خو ډېر کم پرې پوهېدل. دوی ته به تر ټولو ښه خبر دا و چې کوم چا به کوم درس وژباړه. له بلې خوا په نورو پوهنځيو کې ستونزه دا وه چې درسي مواد يې اصلاً د پوهېدلو وړ نه وو. درسي چپټرونه خو يا پخواني دي او يا هم په ډېر بې کيفيته ډول ليکل شوي يا ژباړل شوي دي. باور لرم که مو په خپلو ژبو کې با کيفيته درسي مواد لرلی، د لوړو زده کړو حالت به له اوسني هغه څخه په ځلونو غوره و.

لومړی ځل دی چې په رياضياتو او په ټوله کې د ساينس په برخه کې په دومره شمېر کتابونه ژباړل کېږي او خپرېږي، يو کال مخکې په ټول هېواد کې څه باندې سل کتابونه چاپ شوي وو چې زياتره يې د سياسي او ټولنيزو کتابونو ژباړې وې. دغه کتاب د رياضي د يووشتو کتابونو له سلسلې څخه يو کتاب دی، له دې ور هاخوا د دې کتابونو او د ژباړې په اړه يې ځينې ټکي شته دي، چې دا کتابونه له نورو څخه بېلوي. ټول کتابونه يوه لړۍ ده او يوه ليکوال ليکلې. ټول کتابونه ، يوې ژباړنې ژباړلي، چې پر رياضياتو او نورو ساينسي-مضمونو هم ښه برلاسی لري، کلونه کلونه يې تدريس کړي، او هم د ژباړې او ليکنې تجربه لري. د دې کتابونو د ژباړې په اړه مهمه خبره دا ده چې له دقيق ايډېټ او بيا کتنې وروسته يو ځای خپرېږي.

باور لرم چې دا کتابونه د ښوونځيو او کورسونو د زده کوونکو او د انسټيټونو او پوهنتونونو د محصلينو لپاره، په افغانستان کې غوره درسي مواد او د مطالعې لپاره د رياضياتو تر ټولو غوره کتابونه دي، او د رياضياتو په برخه کې د زده کوونکو ستونزې تر ډېره حلولی شي. دا کتابونه بايد هر افغان زده کوونکي او محصل ته ورسول شي. راځئ چې دا کتابونه تر هره کوره او تر هر ټولګي پورې ورسوو.

استاد پشتون ګل رسولي ته د دې ستر کار مبارکي وايم، الله د پوره صحت، اوږد عمر او د ساينس او ژباړې په برخه کې لا حوصله او توفيق ورکړي.

انجنير عبدالباقي سلطاني

## لړلیک

| سرلیک | مخګڼه |
|---|---|

1) سریزه........................................................1
2) د ناقص شکل لرونکو دویمه درجه معادلو حل........................................1
2−1) په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې $b=0$ فرض کو.....................1
2−2) په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې که $c=0$ وي......................2
2−3) په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې که $b=0$ وي......................2
3) د کامل شکل لرونکوو دویمه درجه معادلو حل........................................3
3−1) د مطابقتونو طریقه........................................................3
3−2) د کامل مربع طریقه........................................................3
3−3) $b$ حکم........................................................4
3−4) د $b'$ حکم........................................................6
4) د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادلې د ضریبونو او جذرونو ترمنځ اړیکه.........7
5) د معادلې له حل څخه پرته د دویمه درجې معادلو د حل له مخې د متناظرو افادو محاسبه......10
6) دویمه درجه سیستمونه........................................................18
6−1) متناظر سیستمونه........................................................18
6−2) غیر متناظر سیستمونه........................................................19
6−3) د مجهولونو په نسبت متجانس سیستمونه........................................19
7) د $a,b,c$ ضریبونو ځانګړې پایلې او اړوند ټکي یې..................................20
7−1) که په دویمه درجه معادله $a+b+c=0, ax^2+bx+c=0$ شي (د ضریبونو مجموعه صفر شي) د معادلې یو جذر $x_1=1$ او بل جذر یې $x_2=\frac{c}{a}$ دی....... 20
7−2) که په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې $b=a+c$ (د a او c ضریبونو مجموعه له b سره مساوی شی) یو جذر یې $x_1=-1$ او بل یې $x_2=-\frac{c}{a}$ دی....20
7−3) که د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجې معادلې یو جذر، k ځله له بل جذر څخه ستر وي لاندې مساوات تل صدق کوي........................................21
7−4) که په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې د $x^2$ ضریب یعنې $a$ صفر لوري ته میل وکړي، په دې صورت کې د یوه مطلقه قیمت ∞ او بل جذر $\left(-\frac{c}{a}\right)$ لوري ته میل کوي........................................ 21

7 – 5) که په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې د $x^2$ ضریب یعنې $a$ او د $x$ ضریب یعنې $b$ دواړه صفر لوري ته تقرب وکړي، دواړه $x_1$ او $x_2$ جذرونه ∞ ته تقرب کوي.......................................................... 23
8) د هغې دویمې درجه معادلې جوړول چې دواړه جذرونه یې معلوم وي.................. 25
9) د هغې دویمه درجې درجه معادلې جوړول چې یوازې یو چذریې معلوم وي................. 26
10) د هغه دوو اعدادو ټاکل چې د ضرب او جمعې حاصل یې معلوم وي..................... 26
11) له یوې فرضي معادلې څخه ځانګړو شرایطو له مخې د نوې دویمې درجې معادلې جوړول...... 26
12) په ځانګړو حالاتو کې د نویو دویمه درجه معادلو جوړول.............................. 28
13) د دوو $\begin{cases} ax^2+bx+c=0 \\ a'x^2+b'x+c'=0 \end{cases}$ معادلو ترمنځ د دوو ګډو جذرونو د لرلو شرط............... 30
14) د $ax^2+bx+c=0$ دویمې درجې معادلې حل او بحث.................................. 33
15) د دویمه درجه افادې د علامې ټاکل..................................................... 35
16) یو مجهوله دویمه درجه نامساوات..................................................... 38
16 – 1) سریزه.......................................................................... 38
16 – 2) د یو مجهوله دویمه درجه نامساواتو سیستم..................................... 40
17) د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادلې له جذرونو سره د یو عدد $(p)$ پرتله........... 41
18) د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادلې له جذرونو سره د دوو $p,q$ اعدادو پرتله......... 42
19) د $P,S$ په کارولو سره د دویمه درجې درې حده (ترینوم) تجزیه........................ 43
20) هغه معادلې چې په دویمه درجه معادلو د اوښتلو وړتیا لري............................ 44
20 – 1) دوه مجذوري (مربع) لرونکې معادلې.............................................. 44
20 – 2) معکوسې معادلې.................................................................. 46
21) د دویمه درجې رابطې ګراف.............................................................. 48
21 – 1) سریزه.......................................................................... 48
21 – 2) په عمومي حالت کې د پارابولا معادله............................................ 49
21 – 3) د $y=ax^2+bx+c$ معادلې راس او د تناظر خط....................................... 49
21 – 4) د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجې معادلې د جذرونو او د پارابولا د ګراف ترمنځ اړیکه.......................................................................... 50
22) په دویمه درجه درې حده کې اکسترمم................................................... 50

## 1. سریزه

د هرې دویمه درجه معادلې عمومي شکل په $ax^2+bx+c=0$ بڼه دی چې په هغه کې $c,b,a$ حقیقي اعداد دي.

پام مو وي چې په پاسنۍ معادله کې $a\neq 0$ دی، ځکه که داسې نه وي دویمه درجه معادله په لومړۍ درجه معادله اوړي.

## 2. د ناقص شکل لرونکو دویمه درجه معادلې حل

مخکې له دې چې کامل شکل لرونکي دویمه درجه معادلې حل کړو، د ناقص شکل لرونکو دویمه درجه معادلو حل څېړو.

**1−2) په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې $b=0$ فرضوو، نو**

$$b=0\Rightarrow ax^2+(0)x+c=0$$
$$\Rightarrow ax^2+c=0$$
$$\Rightarrow ax^2=-c$$
$$\Rightarrow x^2=-\frac{c}{a}$$
$$\Rightarrow x=\pm\sqrt{-\frac{c}{a}}$$

که $c$ او $a$ مختلف العلامه وي $-\frac{c}{a}>0$ دی او معادله دوه مختلف العلامه جذرونه لري.

**مثال)** لاندې ناقص دویمه درجه معادلې حل کړئ.

1) $2x^2-8=0$ 2) $-9x^2+27=0$

3) $4x^2+16=0$ 4) $3x^2-5=70$

5) $(x+1)^2-2x-2=0$

**یادونه**

$ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله په هغه صورت کې دوه مختلف العلامه جذرونه لري چې $b=0$ وي او $a$ او $c$ مختلف العلامه وي.

**6 مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته $3x^2+(m^2-9)x+m+2=0$ معادله دوه مختلف العلامه جذرونه لري.

**7 مثال)** په $(m^2+1)x^2+(m^2-1)x+m^2+3m-2=0$ معادله کې د $m$ کومو قیمتونو ته معادله دوه هم علامه جذرونه لري؟

**2–2) په $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله کې که $c=0$ وي:**

$$c=0\Rightarrow ax^2+bx+(0)=0$$
$$\Rightarrow ax^2+bx=0$$
$$\Rightarrow x(ax+b)=0\Rightarrow\begin{cases}x=0\\ ax+b=0\Rightarrow x=-\dfrac{b}{a}\end{cases}$$

**يادونه)** د دې لپاره چې د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې يو ځواب تل صفر وي، بايد $c$ ضريب مساوي په صفر وي.

7 **مثال)** لاندې ناقصې دويمه درجه معادلې حل کړئ.

8) $3x^2+18x=0$

9) $-2x^2-16x=0$

10) $4x^2-8x=0$

11) $(x+2)(x+3)=6$

12) $(2x-1)^2-(x-1)^2=0$

**2–3) په $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله کې که $b=0$ وي**

دوه ګونې جذرونه

$$if\quad b=0,c=0\Rightarrow ax^2+(0)x+(0)=0\Rightarrow ax^2=0\Rightarrow x^2=0\Rightarrow\left\{\begin{matrix}x=0\\x=0\end{matrix}\right\rangle x=0$$

**1 يادونه)** د دې لپاره چې $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله مضاعف جذرونه (چې دواړه جذرونه يې صفر وي) ولري بايد $b=c=0$ وي.

**2 يادونه)** که په دويمه درجه معادله کې $a=b=c=0$ وي معادله بې شمېره جذرونه لري:

$$(0)x^2+(0)x+0=0$$

يعنې د حقيقي اعدادو په حوزه کې هر عدد لپاره پاسنی مساوات صدق کوي.

**مثال)** لاندې ناقص دويمه درجه معادلې حل کړئ.

13) $3x^2=0$

14) $-\sqrt{5x^2}=0$

15**مثال)** د $m$ او $n$ کومو قيمتونو ته $7x^2+(m+n-5)x+(m-n+7)=0$ معادله دوه صفر جذرونه لري؟

## 3. د کامل شکل لرونکو دویمه درجه معادلو حل

### 3–1) د مطابقتونو طریقه

د لومړي، دویم او د ګډ حدونو مطابقت په ذریعه کولی شو ځینې دویمه درجه معادلې حل کړو.

لو مړی مطابقت: $a^2+2ab+b^2=(a+b)^2$

دویم مطابقت: $a^2-2ab+b^2=(a-b)^2$

د ګډ حد مطابقت: $x^2+(a+b)x+ab=(x+a)(x+b)$

**مثال)** لاندې دویمه درجه معادلې حل کړئ.

16) $x^2+6x+9=0$ 17) $25x^2+60x+36=0$

18) $x^2-8x+16=0$ 19) $9x^2-24x+16=0$

20) $x^2+5x+6=0$ 21) $x^2-3x-4=0$

### 3–2) د کامل مربع طریقه

$ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله فرضوو، په کامل مربع طریقه د دغه معادلې د حل لپاره په لاندې توګه عمل کوو:

$$ax^2+bx+c=0 \Rightarrow a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}\right)=0 \Rightarrow \begin{cases} a\neq 0 \\ x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}=0 \end{cases}$$

$$x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}=0 \Rightarrow x^2+\frac{b}{a}x=-\frac{c}{a}$$

د دې لپاره چې د مساواتو کیڼ لوری کامل مربع شي، د $x$ ضریب یعنې $\frac{b}{a}$ پر دوو تقسیموو، حاصل یې د 2 پر توان پورته کوو، ترلاسه شوی عدد د مساواتو دواړه خواوو ته ورزیاتوو. (د $x$ ضریب د نیمایي مربع)

$$\frac{b}{a}\div 2=\frac{b}{a}\times\frac{1}{2}=\frac{b}{2a} \Rightarrow \left(\frac{b}{2a}\right)^2=\frac{b^2}{4a^2}$$

$$x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}=\frac{b^2}{4a^2}-\frac{c}{a}$$

په دې صورت کې د مساوات کیڼ لوری تل یا لومړی مطابقت وي یا دویم ډوله مطابقت (خو په دې مسئله کې لومړی مطابقت دی):

$$\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2=\frac{b^2-4ac}{4a^2} \xrightarrow{\text{جذر}} x+\frac{b}{2a}=\pm\sqrt{\frac{b^2-4ac}{4a^2}}$$

$$\Rightarrow x+\frac{b}{2a}=\pm\sqrt{\frac{b^2-4ac}{2a}}$$

$$\Rightarrow x=\frac{-b}{2a}\pm\sqrt{\frac{b^2-4ac}{2a}}$$

$$\Rightarrow x=\frac{-b\pm\sqrt{b^2-4ac}}{2a}$$

**مثال)** لاندې دويمه درجه معادلې په کامل مربع طريقه حل کړئ.

22) $3x^2-x-2=0$ 23) $x^2-3x-4=0$ 24) $x^2+6x-187=0$

25) $3x^2+4x=15$ 26) $x^2-\frac{x}{6}=\frac{7}{6}$ 27) $x^2-12x+35=0$

28) $2x^2-5x-12=0$ 29) $5x^2+6x-8=0$ 30) $x^2-6x+9=0$

$(3-3$ $b$ **حکم:**

که $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله په کامل مربع طريقه حل کړو، د دويمه درجه معادلې جذرونه په لاندې توګه محاسبه کيږي.

$$x=\frac{-b\pm\sqrt{b^2-4ac}}{2a}$$

په پاسنۍ طريقه د يادې معادلې حل ته د $b$ حکم وايي.

په دې فورمول کې $\Delta=b^2-4ac$ ته د دويمه درجه معادلې **مبّين** وايي او پاسنی فورمول په ساده توګه $x=\frac{-b\pm\sqrt{\Delta}}{2a}$ په پام کې نيسو.

په دې حالت کې:

1) که $\Delta>0$ وي $ax^2+bx+c=0$ معادله په لاندې توګه دوه حقيقي حذرونه لري:

$$x_1=\frac{-b+\sqrt{\Delta}}{2a} \quad , \quad x_2=\frac{-b-\sqrt{\Delta}}{2a}$$

2) که $\Delta=0$ وي، $ax^2+bx+c=0$ معادله دوه مساوي جذرونه لري (جذر يې مضاعف دی چې د $x=-\frac{b}{2a}$ پر اساس ترلاسه شوی).

وروستۍ معادله په لاندې توګه محاسبه کوو:

$$x_1=x_2=\frac{-b\pm\sqrt{\Delta}}{2a}\xrightarrow{\Delta=0}x_1=x_2=-\frac{b}{2a}$$

**يادونه.** ددې لپاره چې يو دويمه درجه افاده، کامل مربع وي،بايد مضاعف جذر ولري، يعنې $\Delta=0$ وي.

3) که $\Delta<0$ وي $ax^2+bx+c=0$ معادله حقيقي جذر نلري، ځکه $\sqrt{\Delta}$ کله چې $\Delta<0$ وي، د حقيقي اعدادو په سيټ کې تعريف نلري.

**مثال)** لاندې دويمه درجه معادلې د $b$ حکم له مخې حل کړئ.

31) $x^2+x-2=0$

32) $-3x^2+7x-4=0$

33) $5x^2-3x-8=0$

34) $x^2+2x+1=0$

35) $25x^2-30x+9=0$

37) $-7x^2+3x-2=0$

38) $7x^2-5x-2=0$

39) $(5x-3)(x-5)=(2x+5)^2+90$

40) $x+\frac{1}{x-3}=5$

41) $\frac{x}{x+1}+\frac{x}{x+4}=1$

42) $\frac{5x-1}{x+1}=\frac{3x}{2}$

43) $\frac{3x-1}{4x+7}=1-\frac{6}{x+7}$

44) $\frac{x-5}{x-7}+\frac{x-7}{x-5}+2=0$

45) $bx^2-\left(a+b^2\right)x+ab=0$

46 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته $A=x^2-2(m+2)x+12+m^2$ کامل مربع ده؟

47 **مثال)** که $(a+b)x^2+ax+1=0$ معادله $x=1$ مضاعف جذر ولري، $a+b$ ترلاسه کړئ.

48 **مثال)** د $a$ او $b$ قیمتونه داسې وټاکئ چې $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله 1 مضاعف جذر ولري.

49 **مثال)** ثبوت کړئ چې $\frac{1}{x-a}+\frac{2}{x-b}=1$ دویمه درجه معادله تل دوه جذرونه لري. $a\neq b$

50 **مثال)** که $c,b,a$ ناطق اعداد وي ثبوت کړئ چې د $(a-b+c)x^2+2cx-(a-b-c)=0$ معادلې جذرونه ناطق دي.

51 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو لپاره $x^2+m(m-1)x+36$ کامل مربع دی؟

52 **مثال)** ثبوت کړئ چې که $ax^2+bx+c=0$ معادله حقیقي جذرونه ولري $ax^2+bx+c+m(ax+b)=0$ معادله هم حقیقي جذرونه لري.

53 **مثال)** $x^2+ax+b=0$ معادله دوه حقیقي جذرونه لري، ثبوت کړئ د $m$ کومو قیمتونو ته

لاندې معادله دوه حقیقي جذرونه لري.

$3x^2+2(a+m)+ma+b=0$

54 **مثال)** $(5a-1)x^2-(5a+2)x+3a-2=0$ معادله د $a$ کومو قیمتونو ته مضاعف جذر لري؟

55 **مثال)** $x^2-x-5$ او $y^2+3y+3$ او $-z^2-5z-5$ پولینومونه د $x$ او $y$ او $z$ کومو اعدادو ته مساوي قیمتونه ترلاسه کوي؟

56 **مثال)** د $x$ ټول حقیقي قمتونه ترلاسه کړئ چې د هغوی لپاره $\frac{x}{x^2-5x-7}$ عبارت له صحیح عدد سره مساوي وي.

57 **مثال)** $a$ او $b$ او $c$ صحیح او تاق اعداد دي. ثبوت کړئ چې $ax^2+bx+c=0$ معادله ناطق جذرونه لري.

58 **مثال)** ثبوت کړئ چې لاندې معادله د $a$ او $b$ او $c$ حقيقي قيمتونو لپاره حقيقي جذرونه لري؟

$$f(x)=(x-a)(x-b)+(x-b)(x-c)+(x-c)(x-a)=0$$

59 **مثال)** ثبوت کړئ چې په $aa'=2(b+b')$ شرط سره لږ تر لږه يو له لاندې دوو معادلو څخه حقيقي جذرونه لري.

60 **مثال)** که د $\dfrac{x+3}{x^2+ax+b}$ کسر د تعريف حوزه $D=R-\{2\}$ وي $a$ او $b$ وټاکئ.

4 – 3) **د** $b'$ **حکم**:

که په $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله کې $b$ جفت وي، فرضاً $b=2b'$ نو دويمه درجه معادله کولی شو په نسبتاً ساده فورمول حل کړو:

$$ax^2+bx+c=0 \Rightarrow x=\frac{-b\pm\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\xrightarrow{b=2b'}x=\frac{-2b'\pm2\sqrt{b'^2-ac}}{2a}$$

$$=\frac{2\left(-b'\pm\sqrt{b'^2-ac}\right)}{2a}$$

$$=\frac{-b'\pm\sqrt{b'^2-ac}}{a}$$

**پايله**:

په $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله کې که $b$ جفت او $b=2b'$ وي $c$ په دې صورت کې:

$$\Delta'=b'^2-ac\ ,\quad x=\frac{-b'\pm\sqrt{\Delta'}}{a}$$

$\Delta'=b'^2-ac$ ته د دويمه درجې معادلې مبين وايي.

**1يادونه)** د $\Delta$ او $\Delta'$ ترمنځ $\Delta=4\Delta'$ رابطه موجوده ده:

$$\begin{cases}\Delta=b^2-4ac\\ \Delta'=b'^2-ac\ ,\ b=2b'\end{cases}$$

د نه منلو وړ

$$\Delta=b^2-4ac$$
$$=(2b')^2-4ac$$
$$=4b'^2-4ac$$
$$=4\left(b'^2-ac\right)$$
$$=4\Delta'\Rightarrow\Delta=4\Delta'$$

2 **يادونه)**

د دويمه درجه معادلې د حقيقي جذرونو د شتون او يا نشتون لپاره ($ax^2+bx+c=0$, $\Delta$ يا $\Delta'$ يې) ترلاسه کوو، او درې حالتونه يې ارزوو:

1) که $\Delta'>0$ وي معادله دوه حقيقي جذرونه لري چې په لاندې توګه محاسبه کېږي:

$$x_1=\frac{-b'+\sqrt{\Delta'}}{a}\quad,\quad x_2=\frac{-b'-\sqrt{\Delta'}}{a}$$

2) که $\Delta'=0$ وي، معادله دوه مساوي جذرونه (يو مضاعف جذر) چې له $x_1=x_2=\frac{-b'}{a}$ سره مساوي دی، لري.

$$x_1=x_2=\frac{-b}{2a}\xrightarrow{b=2b'}x_1=x_2=\frac{-2b'}{2a}\Rightarrow x_1=x_2=\frac{-b'}{a}$$

3) که $\Delta'<0$ وي معادلهٔ حقيقي جذر نلري.

**مثال)** لاندې دويمه درجه معادلې د $b'$ حکم په ذريعه حل کړئ.

61) $x^2+4x+3=0$
62) $x^2+2x+1=0$
63) $x^3+6x+37=0$
64) $9x^2+6x+1=0$
65) $\sqrt{2}x^2-2\sqrt{3}x+\sqrt{2}=0$
66) $(m-2n)x^2-2mx+m+2n=0\,,n>0$

67 **مثال)** د $m$ بيلابيلو قيمتونو لپاره د لاندې معادلې د جذرونو په شتون او نشتون بحث وکړئ.

$$mx^2-2(m-1)x+m+1=0$$

68 **مثال)** د $m$ قيمت داسې وټاکئ چې لاندې معادله مضاعف جذر ولري، او وروسته يې مضاعف جذر محاسبه کړئ.

$$(m+3)x^2+2(3m+1)x+(m+3)=0$$

69 **مثال)** د $m$ قيمت داسې وټاکئ چې د $(m+1)x^2-2mx+m-5=0$ معادلې يو جذر 2 وي، وروسته يې دويم جذر هم ترلاسه کړئ.

70 **مثال)** وښيئ چې $x^2-4bx+4b^2-a^2=0$ معادله د $a$ او $b$ ټولو قيمتونو ته ځواب لري او د معادلې ځوابونه ترلاسه کړئ. $(a>0)$

71 **مثال)** که $n$ طبيعي عدد وي، د $n$، کومو قيمتونو ته د $A=n^2+(n+1)^2+(n+2)^2+(n+3)^3=0$ افادې مجموعه پر 10 عدد د تقسيم وړتيا لري؟

## 4. د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې د ضريبونو او جذرونو ترمنځ اړيکه

په $ax^2+bx+c=0$ د دويمه درجه معادله کې $(a,b,c)$، د دويمه درجه معادلې ضريبونه او $(x_1,x_2)$ د معادلې حقيقي جذرونه دي.

د $x_1$ ، $x_2$ او $a$ ، $b$ ، $c$ ترمنځ رابطې ته د معادلې د ضريبونو او جذرونو ترمنځ رابطه وايي.

د معادلې د جذرونو او ضريبونو ترمنځ اساسي رابطې په لاندې توګه دي:

$$\text{I) } S = x_1 + x_2 = -\frac{b}{a}$$

$$\text{II) } P = x_1 \cdot x_2 = \frac{c}{a}$$

$$\text{III) } |x_1 - x_2| = \frac{\sqrt{\Delta}}{|a|}$$

$$\text{I) } S = x_1 + x_2 = -\frac{b}{a}$$

**ثبوت**

$$if\ \ ax^2 + bx + c = 0 \Rightarrow x = \frac{-b \pm \sqrt{\Delta}}{2a} \Rightarrow \begin{cases} x_1 = \dfrac{-b + \sqrt{\Delta}}{2a} \\ x_2 = \dfrac{-b - \sqrt{\Delta}}{2a} \end{cases}$$

$$\begin{aligned} S = x_1 + x_2 &= \frac{-b + \sqrt{\Delta}}{2a} + \frac{-b - \sqrt{\Delta}}{2a} \\ &= \frac{\left(-b + \sqrt{\Delta}\right) + \left(-b - \sqrt{\Delta}\right)}{2a} \\ &= \frac{-2b}{2a} \\ &= -\frac{b}{a} \end{aligned}$$

$$\text{II) } P = x_1 \cdot x_2 = \frac{c}{a}$$

**ثبوت**

$$ax^2 + bx + c = 0 \Rightarrow x = \frac{-b \pm \sqrt{\Delta}}{2a} \Rightarrow \begin{cases} x_1 = \dfrac{-b + \sqrt{\Delta}}{2a} \\ x_2 = \dfrac{-b - \sqrt{\Delta}}{2a} \end{cases}$$

$$\begin{aligned} P = x_1 \cdot x_2 &= \left(\frac{-b + \sqrt{\Delta}}{2a}\right)\left(\frac{-b - \sqrt{\Delta}}{2a}\right) \\ &= \frac{\left(-b + \sqrt{\Delta}\right)\left(-b - \sqrt{\Delta}\right)}{4a^2} \end{aligned}$$

$$=\frac{(-b)^2-\left(\sqrt{\Delta}\right)^2}{4a^2}$$

$$=\frac{b^2-\Delta}{4a^2}$$

$$=\frac{b^2-\left(b^2-4ac\right)}{4a^2}$$

$$=\frac{b^2-b^2+4ac}{4a^2}$$

$$=\frac{4ac}{4a^2}$$

$$=\frac{c}{a}$$

III) $|x_1-x_2|=\frac{\sqrt{\Delta}}{|a|}$

ثبوت

$$ax^2+bx+c=0\Rightarrow x=\frac{-b\pm\sqrt{\Delta}}{2a}\Rightarrow\begin{cases}x_1=\frac{-b+\sqrt{\Delta}}{2a}\\ x_2=\frac{-b-\sqrt{\Delta}}{2a}\end{cases}$$

$$|x_1-x_2|=\left|\frac{-b+\sqrt{\Delta}}{2a}-\frac{-b-\sqrt{\Delta}}{2a}\right|$$

$$=\left|\frac{-b+\sqrt{\Delta}-\left(-b-\sqrt{\Delta}\right)}{2a}\right|$$

$$=\left|\frac{-b+\sqrt{\Delta}+b+\sqrt{\Delta}}{2a}\right|$$

$$=\left|\frac{2\sqrt{\Delta}}{2a}\right|$$

$$=\left|\frac{\sqrt{\Delta}}{a}\right|$$

$$=\frac{\sqrt{\Delta}}{|a|}$$

**يادونه)** وروستۍ يادونې ته په پام سره د دويمه درجه معادلې د دوو صحيح متوالي جذرونو د درلودلو شرط $b^2-4ac=a^2$ دی.

د دوو متوالی جذرونو شرط : $x_1-x_2=1 => \frac{\sqrt{\Delta}}{a}=1 => \sqrt{\Delta}=a => \Delta=a^2 => b^2-4ac=a^2$

72 **مثال)** $x^2+kx+8=0$ دويمه درجه معادله فرضوو، د $k$ کومو قيمتونو ته د معادلې يو جذر د دغه معادلې د بل جذر مربع دی.

73 **مثال)** دويمه درجه معادله فرضوو، د $k$ د کومو قيمتونو لپاره د معادلې د جذرونو ترمنځ $x_1+3x_2=7$ رابطه موجوده ده.

74 **مثال)** $x_1+x_2+x_1x_2=-1$ رابطه د دويمه درجه معادلې د جذرونو ترمنځ فرض شوې ده، د معادلې مضاعف جذر څو دی؟

75 **مثال)** که $a$ د $x^2-4x+1=0$ معادلې يو جذر وي د $k=\frac{a^2}{a^2-8a+2}$ قيمت ترلاسه کړئ.

76 **مثال)** که د $x^2+bx+c=0$ معادلې جذر دوه صحيح متوالي اعداد وي، د ضريبونو ترمنځ يې کومه اړيکه موجوده ده؟

77 **مثال)** که د $(1+m)x^2+3x+1-m=0$ معادلې د دوو جذرونو تفاضل 2 وي، $m$ ترلاسه کړئ.

78 **مثال)** $\alpha$ او $\beta$ د $x^2-cx+d=0$ معادلې جذرونه دي او $\alpha$ د $x^2-ax+b=0$ معادلې مضاعف جذر دی، ثبوت کړئ چې $ac=2(b+d)$

79 **مثال)** که د $ax^2+bx+c=0$ معادلې جذرونو څخه يو يې د بل جذر د مجذور معکوس وي، د ضريبونو ترمنځ يې کومې اړيکې موجودې دي؟

80 **مثال)** که د دويمه درجه معادلې د جذرونو ترمنځ $x'x''+x'+x''=3$ رابطه موجوده وي، د معادلې مضاعف جذر ترلاسه کړئ.

81 **مثال)** په $x^2+px+q=0$ معادله کې جذرونه $\tan\alpha$ او $\tan\beta$ نوموو، که $\cos\lambda=\cos\alpha\cdot\cos\beta$ ولرو نو $\tan^2\lambda$ محاسبه کړئ؟

82 **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته د $x^2+x+m=0$ معادلې د جذرونو تفاضل له 2 سره مساوي دی؟

## 5. د معادلې له حل څخه پرته د دويمه درجه معادلو د حل له مخې د متناظرو افادو محاسبه

هره هغه افاده چې د دويمه درجه معادلې د جذرونو په نسبت متناظر وي، کولی شو د $S$ او $P$ له مخې يې بيان کړو.

لاندې هغه مهمې متناظرې افادې دي چې د دويمه درجه معادلې د جذرونو له مخې متناظرې دي، د $S$ او $P$ له مخې يې محاسبه کوو.

1) $x_1^2+x_2^2=S^2-2p$ 7) $x_1^4+x_2^4=(S^2-2p)^2-2p^2$

2) $x_1^{3}+x_2^{3}=S^3-3pS$

3) $x_1^{-2}+x_2^{-2}=\dfrac{S^2-2p}{p^2}$

4) $x_1^{-3}+x_2^{-3}=\dfrac{S^3-3ps}{p^3}$

5) $\left|x_1^{2}-x_2^{2}\right|=\left|\dfrac{\sqrt{\Delta}}{|a|}\cdot S\right|$

6) $\left|x_1^{3}-x_2^{3}\right|=\left|\dfrac{\sqrt{\Delta}}{|a|}\left(S^2-p\right)\right|$

8) $x_1^{-4}+x_2^{-4}=\dfrac{\left(S^2-2p\right)^2-2p^2}{p^4}$

9) $\left|x_1^{4}-x_2^{4}\right|=\left|\dfrac{\sqrt{\Delta}}{|a|}\cdot S\left(s^2-2p\right)\right|$

10) $\sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}=\sqrt{S+2\sqrt{p}}$

11) $\left|\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right|=\sqrt{S-2\sqrt{p}}$

12) $\dfrac{\sqrt{x_1}}{\sqrt{x_2}}+\dfrac{\sqrt{x_2}}{\sqrt{x_1}}=\dfrac{S}{\sqrt{p}}$

13) $\left|x_1-x_2\right|$

**یادونه)** په عمومي حالت کې که $x_1$ او $x_2$ د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې جذرونه وي او $S_n=x_1^{n}+x_2^{n}$ وي په دې صورت کې:

$$aS_n+bS_{n-1}+cS_{n-2}=0$$

**ثبوت**

$$S_1=x_1^{1}+x_2^{1}$$
$$S_2=x_1^{2}+x_2^{2}$$
$$\vdots$$
$$S_n=x_1^{n}+x_2^{n}$$

د $ax^2+bx+c=0$ معادلې دواړې خواوې له $x^{n-2}$ سره ضربوو:

$$x^{n-2}\left(ax^2+bx+c\right)=0\times x^{n-2}\Rightarrow ax^2\cdot x^{n-2}+bx\cdot x^{n-2}+c\cdot x^{n-2}=0$$
$$\Rightarrow ax^n+bx^{n-1}+cx^{n-2}=0$$

که $x_1$ او $x_2$ د دويمه درجه معادلې جذرونه وي بايد په پاسنۍ معادله کې صدق وکړي:

$$\begin{cases}ax_1^{n}+bx_1^{n-1}+cx_1^{n-2}=0\\ ax_2^{n}+bx_2^{n-1}+cx_2^{n-2}=0\end{cases}\Bigg\rangle\, a\left(x_1^{n}+x_2^{n}\right)+b\left(x_1^{n-1}+x_2^{n-1}\right)+c\left(x_1^{n-2}+x_2^{n-2}\right)=0$$

$$\Rightarrow aS_n+bS_{n-1}+cS_{n-2}=0$$

$$\Rightarrow a\left(S_n+\frac{b}{a}S_{n-1}+\frac{c}{a}S_{n-2}\right)=0$$

$$\Rightarrow S_n+\frac{b}{a}S_{n-1}+\frac{c}{a}S_{n-2}=0$$

$$\Rightarrow S_n - \left(-\frac{b}{a}\right)S_{n-1} + \frac{c}{a}S_{n-2} = 0$$
$$\Rightarrow S_n - qS_{n-1} + pS_{n-2} = 0$$
$$\Rightarrow S_n = qS_{n-1} - pS_{n-2}$$

پام مو وي چې $q = S_1 = x_1 + x_2$

مثلاً $x^2 - 5x + 2 = 0$ , $S_4 = x_1^{\ 4} + x_2^{\ 4}$ ترلاسه کوو.

$$aS_n + bS_{n-1} + cS_{n-2} = 0 \Rightarrow 1S_4 - 5S_3 + 2S_2 = 0$$
$$\Rightarrow S_4 = 5S_3 - 2S_2$$
$$S_2 = x_1^{\ 2} + x_2^{\ 2} = S_1^{\ 2} - 2p = \left(-\frac{b}{a}\right)^2 - 2\left(\frac{c}{a}\right) = \left(-\frac{-5}{1}\right)^2 - 2\left(\frac{2}{1}\right) = 21$$
$$S_3 = x_1^{\ 3} + x_2^{\ 3} = S_1^{\ 3} - 3pS_1 = 5^3 - 3(5)(2) = 95$$
$$S_4 = 5(95) - 2(21) = 433$$

وروستۍ بڼې ته په پام سره:

$$S_n = qS_{n-1} - pS_{n-2}$$
$$S_2 = qS_1 - pS_0$$
$$\left.\begin{cases} S_1 = x_1^{\ 1} + x_2^{\ 1} = q \\ S_0 = x_1^{\ 0} + x_2^{\ 0} = 1 + 1 = 2 \end{cases}\right\rangle S_2 = q \times q - p \times 2 = q^2 - 2p$$

څرنګه چې په دې فورمول کې له $q$ څخه د $S$ پر ځای کار اخلو، باید له $S_n$ فورمول سره اشتباه نشي.

$$S_3 = qS_2 - pS_1$$
$$\left.\begin{matrix} S_2 = q^2 - 2p \\ S_1 = x_1^{\ 1} + x_2^{\ 1} = q \end{matrix}\right\rangle S_3 = q\left(q^2 - 2p\right) - pq = q^3 - 3pq$$

**مثال)** لاندې متناظرې افادې د $S$ او $P$ له جنسه ترلاسه کړئ.

1) $x_1^{\ 2} + x_2^{\ 2}$

**ځواب)**

$$x_1^{\ 2} + x_2^{\ 2} = (x_1 + x_2)^2 - 2x_1x_2$$
$$= S^2 - 2p$$

2) $x_1^{\ 3} + x_2^{\ 3}$

**ځواب)**

$$x_1^{\ 3} + x_2^{\ 3} = (x_1 + x_2)^3 - 3x_1x_2\,(x_1 + x_2)$$
$$= S^3 - 3ps$$

3) $x_1^{-2} + x_2^{-2}$

ځواب)

$$x_1^{-2} + x_2^{-2} = \frac{1}{x_1^2} + \frac{1}{x_2^2}$$

$$= \frac{x_2^2 + x_1^2}{x_1^2 \cdot x_2^2}$$

$$= \frac{x_1^2 + x_2^2}{(x_1 \cdot x_2)^2}$$

$$= \frac{S^2 - 2P}{P^2}$$

4) $x_1^{-3} + x_2^{-3}$

ځواب)

$$x_1^{-3} + x_2^{-3} = \frac{1}{x_1^3} + \frac{1}{x_2^3}$$

$$= \frac{x_2^3 + x_1^3}{x_1^3 \cdot x_2^3}$$

$$= \frac{x_1^3 + x_2^3}{(x_1 \cdot x_2)^3}$$

$$= \frac{S^3 - 3PS}{P^3}$$

5) $\left|x_1^2 - x_2^2\right|$

ځواب)

$$\left|x_1^2 - x_2^2\right| = \left|(x_1 - x_2)(x_1 + x_2)\right|$$

$$= \left|\frac{\sqrt{\Delta}}{|a|} \cdot S\right|$$

6) $\left|x_1^3 - x_2^3\right|$

ځواب)

$$\left|x_1^3 - x_2^3\right| = \left|(x_1 - x_2)\left(x_1^2 + x_1x_2 + x_2^2\right)\right|$$

$$= \left| (x_1 - x_2)(x_1^2 + x_2^2 + x_1 \cdot x_2) \right|$$

$$= \left| \frac{\sqrt{\Delta}}{|a|} (S^2 - 2P + P) \right|$$

$$= \left| \frac{\sqrt{\Delta}}{|a|} (S^2 - P) \right|$$

7) $x_1^4 + x_2^4 = (S^2 - 2P)^2 - 2P$

ځواب)

$$x_1^4 + x_2^4 = (x_1^2)^2 + (x_2^2)^2$$

$$= (S^2 - 2P)^2 - 2P^2$$

8) $x_1^{-4} + x_2^{-4}$

ځواب)

$$x_1^{-4} + x_2^{-4} = \frac{1}{x_1^4} + \frac{1}{x_2^4}$$

$$= \frac{x_2^4 + x_1^4}{x_1^4 \cdot x_2^4}$$

$$= \frac{x_1^4 + x_2^4}{(x_1 \cdot x_2)^4}$$

$$= \frac{(S^2 - 2P)^2 - 2P^2}{P^4}$$

9) $\left| x_1^4 - x_2^4 \right|$

ځواب)

$$\left| x_1^4 - x_2^4 \right| = \left| (x_1^2 - x_2^2)(x_1^2 + x_2^2) \right|$$

$$= \left| (x_1 - x_2)(x_1 + x_2)(x_1^2 + x_2^2) \right|$$

$$= \left| \frac{\sqrt{\Delta}}{|a|} \cdot S (S^2 - 2P) \right|$$

10) $\sqrt{x_1} + \sqrt{x_2}$

ځواب)

$$A=\sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}\Rightarrow A^2=\left(\sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}\right)^2$$
$$\Rightarrow A^2=x_1+x_2+2\sqrt{x_1x_2}$$
$$\Rightarrow A^2=S+2\sqrt{P}$$
$$\Rightarrow A=\sqrt{S+2\sqrt{P}}$$
$$\Rightarrow \sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}=\sqrt{S+2\sqrt{P}}$$

(11 $\left|\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right|$

ځواب)

$$A=\left|\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right|\Rightarrow A^2=\left(\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right)^2$$
$$\Rightarrow A^2=x_1+x_2-2\sqrt{x_1x_2}$$
$$\Rightarrow A=\sqrt{S-2\sqrt{P}}$$
$$\Rightarrow \left|\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right|=\sqrt{S-2\sqrt{P}}$$

12) $\dfrac{\sqrt{x_1}}{\sqrt{x_2}}+\dfrac{\sqrt{x_2}}{\sqrt{x_1}}$

ځواب)

$$\frac{\sqrt{x_1}}{\sqrt{x_2}}+\frac{\sqrt{x_2}}{\sqrt{x_1}}=\frac{x_1+x_2}{\sqrt{x_1}\sqrt{x_2}}$$
$$=\frac{x_1+x_2}{\sqrt{x_1x_2}}$$
$$=\frac{S}{\sqrt{P}}$$

13) $\left|x_1-x_2\right|$

ځواب)

$$A=\left|x_1-x_2\right|\Rightarrow A^2=\left(x_1-x_2\right)^2$$
$$\Rightarrow A^2=x_1^{\ 2}+x_2^{\ 2}-2x_1x_2$$
$$\Rightarrow A^2=\left[\left(x_1+x_2\right)^2-2x_1x_2\right]-2x_1x_2$$
$$\Rightarrow A^2=S^2-4P\xrightarrow{A\geq 0}A=\sqrt{S^2-4P}$$

83 **مثال)** که په دغه معادله کې $x^2-3x-1=0$ , $S_{10}=k$ شي، په دې صورت کې $S_{30}$ ترلاسه کړئ.

**مثال)** $x^2-4x+1=0$ معادله فرض کړئ، د لاندې هرې افادې د جمعې حاصل د معادلې له حل پرته ترلاسه کړئ:

84) $A={x_1}^2-{x_2}^2$ 85) $B=\frac{1}{{x_1}^3}+\frac{1}{{x_2}^3}$

86) $C={x_1}^4+{x_2}^4$ 87) $D=\sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}$

88 **مثال)** په $2\sqrt{2}x^2+3\sqrt{2}x-1=0$ دويمه درجه معادله کې که $x_1$ او $x_2$ د معادلې جذرونه وي، د ${x_1}^2+{x_2}^2$ حاصل ترلاسه کړئ.

89 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-4x+1=0$ معادلې جذرونه وي، د $\left|\sqrt{x_1}-\sqrt{x_2}\right|$ حاصل ترلاسه کړئ.

90 **مثال)** په $x^2-4x+2=0$ دويمه درجه معادله کې د $\sqrt{\frac{x_1}{x_2}}+\sqrt{\frac{x_2}{x_1}}$ حاصل ترلاسه کړئ.

91 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-2x+m=0$ معادلې جذرونه وي د $m$ کومو قيمتونو ته $\frac{1}{{x_1}^3}+\frac{1}{{x_2}^3}=2$. کېږي.

92 **مثال)** که د $ax^2+bx+c=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ $x_1-x_2+x_1x_2=0$ رابطه موجوده وي، ثبوت کړئ چې يو له جذرونو څخه مساوي پر $\frac{c-b}{2a}$ سره دی.

93 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-Sx+P=0$ معادلې جذرونه او $x_1>x_2$ وي، د $m{x_1}^2+n{x_2}^2$ افادې حاصل ترلاسه کړئ، $(S^2-4p\geq 0)$.

94 **مثال)** داسې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې دجذرونو ترمنځ يې $\begin{cases}{x_1}^2+{x_2}^2-x_1x_2=7\\(x_1+x_2)(x_2+2)=20\end{cases}$ اړيکه وي.

95 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2+5x-1=0$ معادلې جذرونه وي، د $B=\frac{{x_1}^3x_2+x_1x_2^3}{({x_1}^2+6x_1+3)({x_2}^2+6x_2+3)}$ عبارت حاصل ترلاسه کړئ.

96 **مثال)** که $a$ او $b$ د $x^2-5x-1=0$ معادلې جذرونه وي، د $A=\frac{a^2}{b+1}+\frac{b^2}{a+1}$ افادې مقدار ترلاسه کړئ.

97 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-4x-2=0$ معادلې جذرونه وي، د لاندې افادې حاصل ترلاسه کړئ.

$$A=\frac{{x_1}^4x_2+x_1{x_2}^4-3x_1x_2}{({x_1}^3-4x_1+3)({x_2}^3-4{x_2}^2+3)}$$

98 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $2x^2-4x-1=0$ معادلې جذرونه وي $(\alpha^3-2\alpha^2)(\beta^3-2\beta^2)$ ترلاسه کړئ.

**99مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $2x^2-3x-3=0$ دویمه درجه معادلې جذرونه وي د $A=(x_1-3)^2+(x_2-3)^2$ افادې مقدار ترلاسه کړئ.

**100مثال)** د $m$ قیمت له $x^2-2x+m=0$ معادلې څخه داسې پیدا کړئ چې د جذرونو د تفاضل مجذور یې 16 وي.

101 مثال) $x^2-19x+9=0$ معادله په پام کې نیسو او د $\sqrt{x_1}+\sqrt{x_2}$ او $x_1{}^3-x_2{}^3$ افادې عددي مقدار د معادلې له حل څخه پرته پیدا کړئ.

102 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله ولیکئ چې دجذرونو ترمنځ یې $\begin{cases}x_1{}^2+x_2{}^2=5\\x_1x_2=2\end{cases}$ اړیکه موجوده وي.

103 **مثال)** $a$ او $b$ ضریبونه داسې ترلاسه کړئ چې د $x^2+ax+b=0$ معادلې د جذرونو تفاضل 4 او د جذرونو د مکعباتو تفاضل یې 208 وي

104 **مثال)** د $a$ قیمت په $x^2-ax+a-1=0$ معادله کې داسې وټاکئ چې $x_1{}^2+x_2{}^2$ خپل تر ټولو کوچنی قیمت ولري.

105 **مثال)** په $x^2-3x+1=0$ معادله کې د $x_1x_2^{-2}+x_2x_1^{-2}$ قیمت د معادلې له حل پرته ترلاسه کړئ.

106 **مثال)** د $m$ قیمت داسې وټاکئ چې د $x^2-mx+36=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ $\frac{1}{x_1}+\frac{1}{x_2}=\frac{5}{12}$ رابطه موجوده وي او ضمناً جذرونه یې هم ترلاسه کړئ.

107 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $2x^2-3x-3=0$ معادلې جذرونه وي د معادلې له حل پرته د $\frac{x_1+3}{x_2+1}+\frac{x_2+3}{x_1+1}$ عددي قیمت ترلاسه کړئ.

108 **مثال)** $ax^2+(2a-1)x+2-a=0$ دویمه درجه معادله فرضوو، $a$ داسې وټاکئ چې د جذرونو ترمنځ یې $\frac{x_1-1}{x_1+1}+\frac{x_2-1}{x_2+1}=\frac{1}{2}$ رابطه موجود وي.

109 **مثال)** که $m$ او $n$ د $x^2+ax+1=0$ معادلې جذرونه او $r$ او $S$ د $x^2+bx+1=0$ معادلې جذرونه وي، د $A=(m-r)(n-r)(m+s)(n+s)$ حاصل د $a$ او $b$ له جنسه ترلاسه کړئ؟

110 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله ولیکئ چې د جذرونو ترمنځ یې $\begin{cases}x'x''+x'+x''-m=0\\x'x''-m(x'+x'')+10=0\end{cases}$ رابطه موجوده وي.

111 **مثال)** د یوه قائم الزاویه مثلث وتر 17 او د قائمې زاویې تفاضل یې 7 دی، د دوو قائمه اضلاعو طول یې محاسبه کړئ.

112 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $x^2-kx-k=0$ دویمه درجه معادلې جذرونه وي، ثبوت کړئ چې $\alpha^3+\beta^3+\alpha^3\beta^3\geq 0$ دی.

113 **مثال)** $m$ داسې وټاکئ چې د $x^2+(2-m)x-(m+3)=0$ معادلې د جذرونو د مجموعې تر ټولو کوچنی ممکنه مقدار وي.

114 **مثال)** $m$ او $n$ طبيعي اعداد دي، ثبوت کړئ که د $x^2-m(n+1)x+m+n+1=0$ معادلې جذرونه طبيعي اعداد وي، په دې صورت کې $mn\leq 4$ دی.

115 **مثال)** که $a^2+a+1=0$ وي $a^{1370}+\frac{1}{a^{1370}}$ ترلاسه کړئ.

116 **مثال)** $a$ او $b$ مثبت اعداد دي، که د $x^2-ax+b=0$ معادلې جذرونه $x_1$ و $x_2$ ونوموو، $\sqrt[4]{x_1}+\sqrt[4]{x_2}$ محاسبه کړئ.

117 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $x^2+px+q=0$ معادلې جذرونه وي او $\gamma$ او $\delta$ د $x^2+ax+b=0$ معادلې جذرونه وي، د $(\alpha-\gamma)(\beta-\gamma)(\alpha-\delta)(\beta-\delta)$ افادې حاصل د $p$ ، $q$، $a$ او $b$ له جنسه ترلاسه کړئ.

118 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-6x+1=0$ معادلې جذرونه وي ثبوت کړئ چې $x_1^n+x_2^n$ صحيح عدد دی چې پر 5 د تقسيم وړتيا نه لري.

119 **مثال)** د $t$ کومو قيمتونو ته د $x^2-(t-2)x+t^2-1=0$ معادلې د جذرونو د مربع مجموعه خورا لوی قيمت دی؟

120 **مثال)** په $x^2+px-\frac{1}{2p^2}=0$ معادله کې که $x_2,x_1$ يې جذرونه وي د $A=x_1^4+x_2^4$ افادې خورا کوچنی قيمت ترلاسه کړئ.

## 6. دويمه درجه سيستمونه

### 6-1) متناظر سيستمونه

په دې سيستمونه کې د $x+y$ د معلوموالي په صورت کې د $xy$ حاصل ترلاسه کوو او يا د $xy$ د معلوموالي په صورت کې د $x+y$ حاصل ترلاسه کوو، بيا په $x^2-Sx+P=0$ رابطه کې د $P,S$ د معلوموالي په صورت کې $x$ او $y$ قيمتونه ترلاسه کوو.

**مثال)** لاندې سيستمونه حل کړئ.

121) $\begin{cases}x^2+y^2=25\\ xy=12\end{cases}$

122) $\begin{cases}x^3+y^3=7\\ x+y=1\end{cases}$

123) $\begin{cases}x^3+y^3=35\\ x^2-xy+y^2=7\end{cases}$

124) $\begin{cases}x^3+y^3=152\\ x^2y+xy^2=120\end{cases}$

125) $\begin{cases}x+xy+y=11\\ xy^2+x^2y=30\end{cases}$

126) $\begin{cases}\frac{x^2}{y}+\frac{y^2}{x}=12\\ \frac{1}{x}+\frac{1}{y}=\frac{1}{3}\end{cases}$

127) $\begin{cases} \frac{1}{x}+\frac{1}{y}+\frac{1}{z}=3 \\ \frac{1}{xy}+\frac{1}{yz}+\frac{1}{xz}=3 \\ \frac{1}{xyz}=1 \end{cases}$ 128) $\begin{cases} x^n+y^n=a \\ x^n y^n=b^n \end{cases}$

**2 – 6) غیر متناظر سیستمونه**

د څو مثالونو په حل کولو سره دا ډول سیستم معرفي کوو.

**مثال )** لاندې غیر متناظر سیستمونه حل کړئ:

129) $\begin{cases} x+2y=7 \\ x^2+y^2=13 \end{cases}$ 130) $\begin{cases} x-y=5 \\ \sqrt{x}+\sqrt{y}=5 \end{cases}$

131) $\left.\begin{cases} xy^3=a^4 \\ x^3y=b^4 \end{cases}\right\rangle x^2=?$ 132) $\begin{cases} ax^n+by^n=c \\ xy=k,(k\neq 0) \end{cases}$

133 **مثال)** د $a$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases} 4x^2+y^2=8 \\ xy=a \end{cases}$ سیستم ځواب لري؟

**3 – 6) د مجهولونو په نسبت متجانس سیستمونه**

هغه سیستم ته د خپلو مجهولونو په نسبت متجانس ویل کېږي چې ټول شامل مجهولونه یې یو شان درجه ولري.

مثلاً $\begin{cases} ax^2+by^2+cxy=d \\ a'x^2+b'y^2+c'xy=d' \end{cases}$ سیستم د $x$ او $y$ په نسبت متجانس او دویمه درجه دی.

د متجانس سیستم د حل لپاره، $m=\frac{y}{x}$ فرض کېږي او په دوو معادلو کې $y=mx$ وضع کوو، دواړه معادلې د $x$ له جنسه کېږي چې پر یوې او بلې له تقسیم څخه یې $x$ حذف او $m$ ترلاسه کېږي، وروسته بیا $x$ او $y$ مشخصوو.

134 **مثال)** $\begin{cases} x^2+y^2-xy=3 \\ y^2-x^2=3 \end{cases}$ سیستم حل کړئ.

135 **مثال)** په $\frac{\sqrt{ab}}{|a+b|}<\frac{1}{2m}$ شرط او له حل کولو پرته ثبوت کړئ چې $\begin{cases} ax^2+by^2=x-y \\ ax+by=m \end{cases}$ سیستم حقیقي جذرونه لري.

136 **مثال**) $x$ او $y$ د (II) $\begin{cases} x+y=P+qxy & \text{(I)} \\ 2x=S+tx^2 \\ 2y=S+ty^2 \end{cases}$ سیستم له معادلو څخه حذف کړئ او له $x$ او $y$ څخه خپلواکې رابطې ترلاسه کړئ.

## 7. د $a,b,c$ ضریبونو ځانګړې پایلې او اړوند ټکي یې

$7-1$) که په دویمه درجه معادله کې $a+b+c=0, ax^2+bx+c=0$ شي (د ضریبونو مجموعه صفر شي) د معادلې یو جذر $x_1=1$ او بل جذر یې $x_2=\frac{c}{a}$ دی.

$$ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{a+b+c=0} \begin{cases} x_1=1 \\ x_2=\frac{c}{a} \end{cases}$$

**ثبوت**

$$a+b+c=0 \Rightarrow b=-a-c$$
$$ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{b=-a-c} ax^2+(-a-c)x+c=0 \Rightarrow ax^2-ax-cx+c=0$$
$$\Rightarrow (ax^2-ax)-(cx-c)=0$$
$$\Rightarrow ax(x-1)-c(x-1)=0$$
$$\Rightarrow (x-1)(ax-c)=0 \Rightarrow \begin{cases} x-1 \Rightarrow x=1 \\ ax-c=0 \Rightarrow ax=c \Rightarrow x=\frac{c}{a} \end{cases}$$

**مثال**) لاندې دویمه درجه معادلې حل کړئ.

137) $x^2-3x+2=0$

138) $4x^2-9x+5=0$

139) $19x^2-20x+1=0$

140) $(m-1)x^2-2mx+m+1=0$

$7-2$) که په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې $b=a+c$ (د $a$ او $c$ ضریبونو مجموعه له $b$ سره مساوي شي) یو جذرې $x_1=-1$ او بل یې $x_2=-\frac{c}{a}$ دی.

$$if \quad ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{b=a+c} \begin{cases} x_1=-1 \\ x_2=-\frac{c}{a} \end{cases}$$

**ثبوت**

$$ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{b=a+c} ax^2+(a+c)x+c=0 \Rightarrow ax^2+ax+cx+c=0$$
$$\Rightarrow ax(x+1)+c(x+1)=0$$

$$\Rightarrow (x+1)(ax+c)=0 \Rightarrow \begin{cases} x+1=0 \Rightarrow x=-1 \\ ax+c=0 \Rightarrow ax=-c \Rightarrow x=-\dfrac{c}{a} \end{cases}$$

**مثال)** لاندې دويمه درجه معادلې حل کړئ.

141) $2x^2+5x+3=0$ 142) $4x^2-9x-13=0$

143) $-7x^2+2x+9=0$ 144) $(\cos^2\alpha)x^2+x+\sin^2\alpha=0$

145) $(\cos^4\alpha)x^2+\cos 2\alpha\cdot x-\sin^4\alpha=0$

3 – 7) که د $ax^2+bx+c=0$ , دويمه درجه معادلې يو جـذر $k$ ځلـه لـه بـل جـذر څخـه سـتر وي لاندې مساوات تل صدق کوي:

$$\frac{b^2}{ac}=\frac{(k+1)^2}{k}$$

**ثبوت**

فرضوو $x_1$ او $x_2$ د پاسنۍ معادلې جذرونه دي او $x_2=kx_1$ وي:

$$\left.\begin{cases} x_2=kx_1 \\ x_1+x_2=-\dfrac{b}{a} \end{cases}\right\rangle x_1+(kx_1)=-\frac{b}{a} \Rightarrow x_1(1+k)=-\frac{b}{a} \Rightarrow x_1=\frac{-b}{a(k+1)}$$

$$x_2=kx_1 \Rightarrow x_2=\frac{-bk}{a(k+1)}$$

$$x_1\cdot x_2=\frac{c}{a} \Rightarrow \left(\frac{-b}{a(k+1)}\right)\left(\frac{-bk}{a(k+1)}\right)=\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow \frac{b^2k}{a^2(k+1)^2}=c$$

$$\Rightarrow \frac{b^2k}{a(k+1)^2}=c$$

$$\Rightarrow b^2k=ac(k+1)^2$$

$$\Rightarrow \frac{b^2}{ac}=\frac{(k+1)^2}{k}$$

146 **مثال)** په $x^2-(m+1)x+2(m-2)=0$ معادله کې که $x_2=4x_1$ وي، $m$ ترلاسه کړئ.

147 **مثال)** $m$ داسې وټاکئ چې د $x^2-12x+3m+2=0$ ، معـادلې يـو جـذر د دويـم جـذر پنځـه چنده وي.

148 **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته د $x^2-3mx-1=0$ معادلې لومړی جذر د بل څلور چنده دی.

4 – 7) که په $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله کې د $x^2$ ضريب يعنې $a$ صفر لوري تـه ميـل

وکړي، په دې صورت کې د يوه جذر مطلقه قيمت $\infty$ او بل جذر $\left(-\frac{c}{a}\right)$ لوري ته ميل کوي.

$$if\ \ ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{a\to 0} \begin{cases} |x_1| \to \infty \\ x_2 \to -\frac{c}{b} \end{cases}$$

**ثبوت**

**لومړۍ طريقه:**

$$ax^2+bx+c=0$$

$$if\ x=\frac{1}{y} \Rightarrow a\left(\frac{1}{y}\right)^2+b\left(\frac{1}{y}\right)+c=0 \Rightarrow \frac{a}{y^2}+\frac{b}{y}+c=0 \Rightarrow a+by+cy^2=0$$

$$if\ \ a\to 0 \Rightarrow by+cy^2 \to 0 \Rightarrow y(b+cy) \to 0 \Rightarrow \begin{cases} y\to 0 \\ b+cy \to 0 \Rightarrow cy \to -b \Rightarrow y \to -\frac{b}{c} \end{cases}$$

$$x=\frac{1}{y}$$

$$if\ \ y\to 0 \Rightarrow x_1 \to \pm\infty \Rightarrow |x_1| \to \infty$$

$$if\ \ y \to -\frac{b}{c} \Rightarrow x_2 \to \frac{1}{-\frac{b}{c}} \Rightarrow x_2 \to -\frac{c}{b}$$

**دويمه طريقه:**

$$1)\ \lim_{a\to 0} \frac{-b+\sqrt{b^2-4ac}}{2a} = \frac{0}{0} \Rightarrow \lim \frac{-b+\sqrt{b^2-4ac}}{2a} \times \frac{-b-\sqrt{b^2-4ac}}{-b-\sqrt{b^2-4ac}}$$

$$= \lim \frac{4ac}{2a\left(-b-\sqrt{b^2-ac}\right)} = -\frac{c}{b}$$

$$2)\ \lim_{a\to 0} \frac{-b-\sqrt{b^2-4ac}}{2a} = \frac{-2b}{0} = -\infty$$

$\infty$ علامه د $b$ د علامې له مخې ټاکل کېږي.

149 **مثال)** $(m^2-1)x^2+(m^2-5m+4)x+m+10=0$ دويمه درجه معادله فرض کړئ، $m$ کوم عدد ته ميل وکړي تر څو د پاسنۍ معادلې يوازې يو عدد $\infty$ ته متمايل شي.

150 **مثال)** د $a$ کومو قيمتونو ته د $0=(a^4-1)\ x^2-(a-1)x+a+1$ معادلې يو جذر $\infty$ ته ميل کوي؟

5 − 7) که په $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادله کې د $x^2$ ضریب یعنې $a$ او د $x$ ضریب یعنې $b$ دواړه صفر لوري ته تقرب وکړي، دواړه $x_1$ او $x_2$ جذرونه ∞ ته تقرب کوي.

$$if\ \ ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{a\to 0,b\to 0} \begin{cases} |x_1|\to\infty \\ |x_2|\to\infty \end{cases}$$

**ثبوت**

$$if\ \ ax^2+bx+c=0 \xrightarrow{a\to 0} \begin{cases} |x_1|\to\infty \\ x_2\to -\dfrac{c}{b} \end{cases}$$

$$if\ \ b\to 0 \Rightarrow x_2\to -\frac{c}{0} \Rightarrow x_2\to -\infty \Rightarrow |x_2|\to\infty$$

151 **مثال)** $(m^2-1)x^2+(m^2-5m+4)x+m+10=0$ دویمه درجه معادله فرض کړئ، $m$ کوم عدد ته تقرب وکړي تر څو د معادلې دواړه جذرونه ∞ ته تقرب وکړي.

6 − 7) که په دویمه درجه معادله کې د دوو جذرونو ترمنځ ځانګړې رابطه موجوده وي مثلاً یو جذر یې د بل جذر مربع یا مکعب او یا جذر وي یا یو جذر یې د بل جذر $n$ برابره وي یا $n$ واحده له دویم جذر څخه ډېر او یا لږ وي یا....

معمولاً د دا شان مسئلو د حل لپاره، د جذرونو ترمنځ رابطه په فرض شوې معادله کې لیکو، نو د راکړل شوې معادلې سره به درې نورې رابطې ولرو، له دریو رابطو څخه د $x_1$ او $x_2$ جذرونو په حذفولو سره د پام وړ شرط ترلاسه کېږي.

152 **مثال)** د $c,b,a$ ترمنځ کومه رابطه موجوده وي څو د $ax^2+bx+c=0$, معادلې یو جذر د دویم جذر له $n$ ځله سره مساوي شي؟

153 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته د $x^2-mx+16=0$ معادلې یو جذر د دویم جذر مکعب دی؟

154 **مثال)** له $k$ څخه خپلواکه رابطه د $(k-3)x^2+(4k+5)x+2-k=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ ترلاسه کړئ.

155 **مثال)** که په $x^2-x-m^2=0$ دویمه درجه معادله کې $x_1$ او $x_2$ جذرونه او ${x_1}^2+x_1x_2=5$ وي $m$ ترلاسه کړئ.

156 **مثال)** په $x^2-3x+m+1=0$ معادله کې که ${x_1}^2+x_1x_2=3$ وي $m$ ترلاسه کړئ.

157 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته د $x^2-4mx+27=0$ معادلې یو جذر د بل جذر مربع ده.

158 **مثال)** که $ax^2+2bx+c=0$ معادله دوه یو د بل معکوس جذرونه ولري، د ضریبونو ترمنځ یې اړیکه ترلاسه کړئ؟

159 **مثال)** د $m$ قیمت داسې وټاکئ چې د $mx^2-2(m-2)x+m-3=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ $4(x_1+x_2)=7x_1x_2$ رابطه صدق وکړي. $(m\neq 0)$

160 **مثال**) د $m$ مقدار داسې وټاکئ چې د $mx^2-2(m-1)x+m=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ $x_1+2x_2=3$ رابطه موجوده وي.

161 **مثال**) $m$ داسې وټاکئ چې د $9x^2-18mx-8m+16=0$ معادلې د جذرونو نسبت 2 وي.

162 **مثال**) $a$ حقيقي عدد داسې ترلاسه کړئ چې د $4x^2-15x+4a^3=0$ معادلې يو جذر د دويم جذر مربع وي.

163 **مثال**) د $m$ قيمت داسې وټاکئ چې د $x^2-(3m+1)x+2m^2+m=0$ يو له جذرونو څخه څلور واحده له دويم جذر څخه يې ستر وي.

164 **مثال**) په $x^2-ax+4=0$، معادله کې د $a$ قيمت داسې وټاکئ چې د جذرونو ترمنځ يې $x_1^{\ 2}=2x_2$ رابطه موجوده وي.

165 **مثال**) $a$ داسې محاسبه کړئ چې د $(14a-1)x^2-2ax+1=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ $3x_1x_2=2x_1-x_2$ رابطه موجوده وي.

166 **مثال**) $a$ داسې وټاکئ چې د $x^2-ax+6=0$ معادلې د جذرونو ترمنځ لاندې رابطه موجوده وي:

$$9x_1x_2^{\ 2}+3x_1^{\ 3}+9x_2x_1^{\ 2}+3x_2^{\ 3}=1029$$

167 **مثال**) د $m$ قيمت ترلاسه کړئ په هغه صورت کې چې د $3x^2-mx+2=0$ معادلې د جذرونو د مربع تفاضل له $\frac{35}{9}$ سره مساي شي.

168 **مثال**) $k$ داسې وټاکئ چې د $8x^2-(k-1)x+k-7=0$ معادلې جذرونه:

لومړی) يو له بله سره مساوي وي.

دويم) يو له بله سره متناظر وي.

درېيم) يو د بل معکوس وي.

څلورم) د معادلې د جذرونو ترمنځ له $k$ څخه خپلواکه رابطه ترلاسه کړئ.

169 **مثال**) $m$ داسې وټاکئ چې د $x^2+(m-2)x-(m+3)=0$ معادلې د جذرونو د مربع مجموعه د $k$ له فرض شوي عدد سره مساوي شي. د $k$ تر ټولو کوچنی قيمت وټاکئ او د $k$ لپاره د معادلې جذرونه ترلاسه کړئ.

170 **مثال**) په $(a-1)x^2+(a+1)x+2=0$ دويمه درجه معادله کې $a$ داسې وټاکئ چې د معادلې د جذرونو مجموعه د جذرونو د ضرب له حاصل سره مساوي شي.

171 **مثال**) د $p$ او $q$ ترمنځ بايد کومه رابطه موجوده وي، ترڅو د $x^2+px+q=0$ معادلې د جذرونو نسبت له $m$ سره مساي شي؟

172 **مثال**) هغه شرط ترلاسه کړئ چې د $x^2+px+q=0$ دويمه درجه معادلې يو جذر $k$ ځله د $x^2+rx+s=0$ معادلې له يوه جذر څخه ستر وي.

173 **مثال**) $x^2-(2m+1)x+m+1=0$ دويمه درجه معادله راکړل شوې. د $m$ قيمت داسې وټاکئ چې:

1) د معادلې یو جذر مساوي په $m$ وي.

2) د معادلې د دوو جذرونو معکوس مساوي په $\frac{34}{21}$ وي.

$\frac{x_1}{x_2}+\frac{x_2}{x_1}=\frac{19}{3}$ (3

$x_1-x_2=3$ (4

$x_1^3+x_2^3=9$ (5

6) د یوه جذر پنځه چنده د بل جذر له شپږ چنده سره مساوي وي.

## 8. د هغې دویمه درجه معادلې جوړول چې دواړه جذرونه یې معلوم وي

هغه دویمه درجه معادله چې $x_1$ او $x_2$ یې جذرونه وي، ته په پام سره له لاندې فورمول $\begin{cases} S=x_1+x_2 \\ P=x_1x_2 \end{cases}$

او رابطې څخه ترلاسه کېږي:

$$x^2-Sx+P=0$$

**ثبوت**

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{\text{طرفین پر } a \text{ تقسیموو}}x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}=0\Rightarrow x^2-\left(-\frac{b}{a}\right)x+\frac{c}{a}=0$$

$$\Rightarrow x^2-Sx+P=0$$

**مثال)** هغه دویمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه یې په لاندې توګه تعریف شوي وي.

174) $x_1=2\quad,\quad x_2=3$

175) $x_1=m-\sqrt{m^2+3}\quad,\quad x_2=m+\sqrt{m^2+3}$

176) $x_1=2+\sqrt{4-a}\quad,\quad x_2=2-\sqrt{4-a}$

177) $x_1=\sqrt{5}-\sqrt{5-\sqrt{3}}\quad,\quad x_2=\sqrt{5}+\sqrt{5-\sqrt{3}}$

178) $x_1=\frac{\sqrt{5}-2}{\sqrt{5}+2}\quad,\quad x_2=\frac{\sqrt{5}+2}{\sqrt{5}-2}$

179 **مثال)** د $a$ حدود داسې وټاکئ چې $\begin{cases} x+y=4a \\ xy=8a \end{cases}$ سیستم ځواب ولري.

180 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله جوړه کړئ چې د جذرونو ترمنځ یې $\begin{cases} (x_1+1)(x_2+1)=4 \\ \frac{1}{x_1}+\frac{1}{x_2}=2 \end{cases}$

رابطه موجوده وي.

181 **مثال)** هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې د جذرونو ترمنځ يې $\begin{cases} x_1x_2{}^2 + x_2x_1{}^2 = 6 \\ x_1 + x_2 = 3 \end{cases}$ رابطه موجوده وي.

## 9. د هغې دويمه درجه معادلې جوړول چې يوازې يو جذر يې معلوم وي

د دويمه درجه معادلې د جوړولو لپاره چې يوازې يو جذر يې معلوم وي، هغه جذر له $x$ سره مساوي کوو، وروسته دواړه خواوې د $2$ په توان رفع کوو ترڅو معادله ترلاسه شي.

182 **مثال)** ناطق ضريب لرونکې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې يو جذر يې $\sqrt{3}-2$ وي.

183 **مثال)** ناطق ضريب لرونکې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې له جذرونوڅخه يو يې $(3-\sqrt{5})$ وي.

184 **مثال)** که د ناطق ضريب لرونکې دويمه درجه معادلې يو جذر $\sqrt{7-\sqrt{48}}$ وي معادله ترلاسه کړئ.

## 10. د هغه دوو اعدادو پيداکول چې د ضرب او جمعې حاصل يې معلوم وي

که دغه دوه اعداد $x_1$ او $x_2$ ونوموو، څرنګه چې $S = x_1 + x_2$ او $P = x_1x_2$ معلوم دي، نو دويمه درجه معادله د $x^2 - Sx + P = 0$ پر بنسټ جوړوو او له حل څخه يې $x_1$ او $x_2$ ترلاسه کوو.

185 **مثال)** د دوو اعدادو د ضرب حاصل $(-1)$ او د جمعې حاصل يې $(4)$ دی دغه اعداد ترلاسه کړئ.

## 11. له يوې فرضي معادلې څخه د ځانګړو شرايطو له مخې د نوې دويمه درجه معادلې جوړول

غواړو نوې دويمه درجه معادله جوړه کړو چې جذرونه يې د پخوانۍ دويمه درجه معادلې له جذرونو سره ځانګړې اړيکه ولري.

له لاندې دوو طريقو څخه ګټه پورته کوو:

I) د متناظرو افادو کارول

II) د فرض شوې رابطې او غوښتل شوې رابطې د جذرونو ترمنځ د رابطې رامنځته کول.

بايد پام مو وي چې په ځينو مسايلو کې لومړۍ طريقه او په ځينو کې يې دويمه طريقه اسانه وي

186 **مثال)** $x^2 - 2x - 3 = 0$ دويمه درجه معادله فرضوو، هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې

**الف)** د لومړۍ معادلې د جذرونو نيمايي وي.

**ب)** د پاسنۍ معادلې له جذرونو څخه دوه واحده ډېر وي.

**ج)** د پاسنۍ معادلې د جذرونو مربع وي.

187 **مثال)** هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې د $x^2 - 3x + 2 = 0$ معادلې د جذرونو مکعب وي.

188 **مثال)** هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې هريو جذر يې د $x^2 - 2x - 1 = 0$ معادلې د 4,

هر یوه جذر له درې چنده څخه 4 واحده کم وي.

189 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه یې د $mx^2-2x+1=0$ معادلې د جذرونو له تناظر څخه 5 واحده ډېر وي.

190 **مثال)** که $x_1$ او $x_2$ د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجه معادلې جذرونه وي، هغه دویمه درجه معادله ولیکئ چې جذرونه یې $\dfrac{1}{ax_1+b}$ او $\dfrac{1}{ax_2+b}$ وي.

191 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله ولیکئ چې هر یو جذر یې د $x^2-mx=0$ معادلې د جذرونو له درې چنده څخه 4 واحده لږ وي.

192 **مثال)** دوې $\begin{cases} x^2+px+q=0 & (\mathrm{I}) \\ x^2-p^2x+pq=0 & (\mathrm{II}) \end{cases}$ معادلې فرضوو، د $p$ او $q$ قیمتونه په هغه شرط ترلاسه کړئ چې د $(\mathrm{II})$ معادلې هر یو جذر د $(\mathrm{I})$ معادلې له جذرونو څخه یو واحد ډېر وي.

193 **مثال)** $L$ مستقیم خط او $A$ او $B$ دوې نقطې د دې خط پر دواړو خواوو او په اړونده صفحه کې یې فرضوو، هغه دایره چې له $A$ او $B$ تیرېږي، له $L$ خط څخه $CD$ وتر بېلوي، د $CD$ وتر تر ټولو کم طول څومره دی؟

په هغه حالت کې چې $CD$ وتر تر ټولو لږ اوږدوالی ولري، څرنګه یې باید رسم کړو؟

194 **مثال)** درې عددونه چې یو هندسي تصاعد جوړوي، مجموعه یې د $a$ مثبت عدد په اندازه ده، د دې دریو اعدادو تر ټولو لوړ او تر ټولو ټیټ د ضرب حاصل څومره دی؟

195 **مثال)** $a$ ضلع لرونکې مربع فرضوو، د دې مربع د ننه یو مستطیل داسې فرضوو چې د مستطیل راسونه د مربع په څلورو ضلعو پراته وي او اضلاع یې د مربع له قطرونو سره موازي وي، د دې مستطیل حد اقل مساحت به څومره وي؟

196 **مثال)** د $ax^2+bx+c=0$ معادلې جذرونه $x_1$ او $x_2$ او د $a'x^2+b'x+c'=0$ معادلې جذرونه $x_1'$ او $x_2'$ نیسو، د معادلې له حل څخه پرته، دوې دویمه درجه معادلې ولیکئ چې د یوې معادلې جذرونه یې $x_1+x_1'$ او $x_2+x_2'$ او د بلې یوې یې $x_1+x_2'$ او $x_2+x_1'$ وي.

197 **مثال)** هغه دویمه درجه معادله جوړه کړئ چې د جذرونو ترمنځ یې $\begin{cases} x'^3\,x''^3=9 \\ x'^2+x''^2=5 \end{cases}$ رابطه موجوده وي.

## 12 په ځانګړو حالاتو کې د نويو دويمه درجه معادلو جوړول

1) که وغواړو داسې دويمه درجه معادله جوړه کړو چې جذرونـه يـې د $ax^2+bx+c=0$ معـادلې د جذرونو متناظر وي، اړينه ده $b$ په $-b$ واړوو.

$$ay^2-by+c=0$$

**ثبوت**

$$y=-x\Rightarrow x=-y$$

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{x=-y}a(-y)^2+b(-y)+c=0\Rightarrow ay^2-by+c=0$$

2) که وغواړو داسې دويمه درجه معادله جوړه کړو چې جذرونـه يـې د $ax^2+bx+c=0$ معـادلې د جذرونو معکوس وي، اړينه ده چې د $a$ او $c$ ځايونه بدل کړو:

$$cy^2+by+a=0$$

**ثبوت**

$$y=\frac{1}{x}\Rightarrow x=\frac{1}{y}$$

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{x=\frac{1}{y}}a\left(\frac{1}{y}\right)^2+b\left(\frac{1}{y}\right)+c=0\Rightarrow\frac{a}{y^2}+\frac{b}{y}+c=0\Rightarrow cy^2+by+a=0$$

3) که وغواړو داسې دويمه درجه معادله جوړه کړو چې جذرونه يـې د $ax^2+bx+c=0$ معـادلې $n$ چنده وي، نو اړينه ده چې د $x$ ضريب له $n$ سره او د $c$ ثبوت عدد ضريب له $n^2$ سره ضرب کړو.

$$ay^2+b(n)y+c(n^2)=0$$

**ثبوت**

$$y=nx\Rightarrow x=\frac{1}{n}y$$

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{x=\frac{1}{n}y}a\left(\frac{y}{n}\right)^2+b\left(\frac{y}{n}\right)+c=0\Rightarrow\frac{ay^2}{n^2}+\frac{by}{n}+c=0\Rightarrow ay^2+bny+cn^2=0$$

4) هغه دويمه درجه معادله چې جذرونه يې د $ax^2+bx+c=0$ معادلې له جذرونو څخه $m$ واحده ډېر وي په لاندې توګه ده:

$$ay^2+(b-2am)y+am^2-bm+c=0$$

**ثبوت**

$$y=m+x\Rightarrow x=y-m$$

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{x=y-m}a(y-m)^2+b(y-m)+c=0$$

$$\Rightarrow ay^2-2amy+am^2+by-bm+c=0$$

$$\Rightarrow ay^2+(b-2am)y+am^2-bm+c=0$$

5) هغه دويمه درجه معادله چې هر جذر يـې د $ax^2+bx+c=0$ معـادلې د جـذرونو مربـع وي، پـه

لاندې توګه ده:

$$a^2y^2+\left(2ac-b^2\right)y+c^2=0$$

**ثبوت**

$$y=x^2\Rightarrow x=\pm\sqrt{y}$$

$$ax^2+bx+c=0\xrightarrow{x=\pm\sqrt{y}}a\left(\pm\sqrt{y}\right)^2+b\left(\pm\sqrt{y}\right)+c=0\Rightarrow ay\pm b\sqrt{y}+c=0$$

$$\Rightarrow ay+c=\mp b\sqrt{y}$$

$$\Rightarrow (ay+c)^2=\left(\mp b\sqrt{y}\right)^2$$

$$\Rightarrow a^2y^2+2acy+c^2=b^2y$$

$$\Rightarrow a^2y^2+2acy+c^2-b^2y=0$$

$$\Rightarrow a^2y^2+\left(2ac-b^2\right)y+c^2=0$$

198 **مثال**) که $x_1$ او $x_2$ د $x^2+3x+k=0$ معادلې جذرونه وي، داسې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $x_1+2x_2$ او $x_2+2x_1$ وي.

199 **مثال**) $x^2-3x-1=0$ معادله فرضوو، که $x_1$ او $x_2$ د معادلې حقيقي جذرونه وي، نوې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $2x_1+3x_2-4$ او $2x_2+3x_1-4$ وي.

200 **مثال**) که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-2x-9=0$ معادلې جذرونه وي، هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $x_1+2x_2$ او $x_2+2x_1$ وي.

201 **مثال**) که $x_1$ او $x_2$ د $x^2+x-1=0$ معادلې جذرونه وي، هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $\frac{1}{x_1+1}$ او $\frac{1}{x_2+1}$ وي.

202 **مثال**) که $x_1$ او $x_2$ د $3x^2-3x-2=0$ معادلې جذرونه وي، هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $x_1{}^2+x_1x_2$ او $x_2{}^2+x_1x_2$ وي.

203 **مثال**) که د $(a+b)x^2-6x+b=0$ معادلې جذرونه د $2x^2+3x-1=0$ معادلې د جذرونو معکوس وي، $a$ او $b$ ترلاسه کړئ.

204 **مثال**) که د $x^2-mx+m-4=0$ معادلې هر يو جذر د $x^2-(k+2)x-k=0$ معادلې د هر يوه جذر نيمايي وي، $k$ و $m$ ترلاسه کړئ.

205 **مثال**) $a$ او $b$ داسې ترلاسه کړئ چې د $2x^2-(a+1)x+1=0$ معادلې جذرونه د $y^2-by+b-1=0$ معادلې د جذرونو معکوس وي.

206 **مثال**) که د $mx^2-(m-1)x+n=0$، معادلې هر يو جذر د $5x^2+3x-1=0$ معادلې د هر يوه جذر معکوس وي، د $m$ او $n$ قيمتونه ترلاسه کړئ.

207 **مثال**) که $x_1$ او $x_2$ د $x^2-mx+1=0$ معادلې جذرونه وي داسې دويمه درجه معادله جوړه

کړئ چې جذرونه يې $\alpha = x_1 + \dfrac{1}{x_1}$ او $\beta = x_2 + \dfrac{1}{x_2}$ وي.

208 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $x^2 - px + q = 0$ معادلې جذرونه وي، داسې دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $\dfrac{\alpha}{\beta^2}$ ، $\dfrac{\beta}{\alpha^2}$ وي.

209 **مثال)** $x^2 - mx - m^2 = 0$ دويمه درجه معادله فرض کړئ که $x_1$ او $x_2$ يې جذرونه وي، هغه دويمه درجه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $\dfrac{x_1}{x_2}$ ، $\dfrac{x_2}{x_1}$ وي.

210 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $x^2 - x - 3 = 0$ معادلې جذرونه وي د $(2-\alpha)^{-2} + (\beta - 2)^{-2} + (\alpha - 2)^{-2}$ حاصل ترلاسه کړئ.

211 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $ax^2 + bx + c = 0$ دويمه درجه معادلې جذرونه وي:

لومړی) هغه معادله جوړه کړئ چې جذرونه يې $\alpha^{-3}$ او $\beta^{-3}$ وي.

دويمه) د $\alpha\beta^2 = 1$ په فرضولو سره ثبوت کړئ چې $a^3 + c^3 + abc = 0$ ده.

212 **مثال)** که په $x^2 + ax + b = 0$ معادله کې يو جذر د دويم جذر مربع وي ثبوت کړئ چې $b^2 - 3ab^2 + a^3b - b^3 = 0$ ده.

213 **مثال)** که په $ax^2 + bx + c = 0$ معادله کې يو جذر د دويم جذر د معکوس مربع وي $a^3 + c^3$ ترلاسه کړئ.

214 **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته $(m-8)x^2 - 4mx + 4m - 5 = 0$ معادله دوه يو د بل معکوس جذرونه لري.

215 **مثال)** که د $x^2 + px + q = 0$ معادلې هر يو جذر د $ax^2 + bx + c = 0$ معادلې د هر يوه جذر مربع وي، $p$ د $c, b, a$ له جنسه ترلاسه کړئ.

## 13. د دوو $\begin{cases} ax^2 + bx + c = 0 \\ a'x^2 + b'x + c' = 0 \end{cases}$ معادلو ترمنځ د دوو ګډو جذرونو د لرلو شرط

که $\dfrac{a}{a'} = \dfrac{b}{b'} = \dfrac{c}{c'}$ وي په دې صورت کې پاسنۍ دوې دويمه درجه معادلې دوه ګډ جذرونه لري.

**ثبوت**

$$\begin{matrix} -a' \times \\ a \times \end{matrix}\begin{cases} ax^2 + bx + c = 0 \\ a'x^2 + b'x + c' = 0 \end{cases} \Bigg\rangle \begin{cases} -a'ax^2 - a'bx - a'c = 0 \\ aa'x^2 + ab'x + ac' = 0 \end{cases}$$

د پاسني سيستم د دوو رابطو له جمع کولو څخه پايله ترلاسه کوو چې:

$$(ab' - a'b)x + ac' - a'c = 0 \Rightarrow (ab' - a'b)x = a'c - ac' \Rightarrow x = \frac{a'c - ac'}{ab' - a'b}$$

پاسنی جذر په دواړو معادلو کې صدق کوي، په لومړۍ معادله کې یې وضع کوو:

$$a\left(\frac{a'c-ac'}{ab'-a'b}\right)^2+b\left(\frac{a'c-ac'}{ab'-a'b}\right)+c=0$$

$$\Rightarrow a\left(a'c-ac'\right)^2+b\left(a'c-ac'\right)\left(ab'-a'b\right)+c\left(ab'-a'b\right)^2=0$$

$$\Rightarrow a\left(a'c-ac'\right)^2+\left(ab'-a'b\right)\left[b\left(a'c-ac'\right)+c\left(ab'-a'b\right)\right]=0$$

$$\Rightarrow a\left(a'c-ac'\right)^2+\left(ab'-a'b\right)\left[ba'c-bac'+cab'-ca'b\right]=0$$

$$\Rightarrow a\left(a'c-ac'\right)^2+a\left(ab'-a'b\right)\left(b'c-bc'\right)=0$$

$$\Rightarrow a\left(a'c-ac'\right)^2=-a\left(ab'-a'b\right)\left(b'c-bc'\right)$$

$$\Rightarrow \left(a'c-ac'\right)^2=\left(ab'-a'b\right)\left(bc'-cb'\right)$$

وروستۍ رابطه هغه مهال موجوده ده چې $\frac{a}{a'}=\frac{b}{b'}=\frac{c}{c'}$ وي.

216 **مثال)** د $a$ او $b$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases}2x^2-(a+3)x+b=0\\4x^2-(2b+4)x+3a-2=0\end{cases}$ دوې معـادلې دوه مسـاوي جذرونه لري؟

217 **مثال)** د $a$ او $b$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases}ax^2+2x+b=0\\2x^2+x-1=0\end{cases}$ دوې معادلې دوه ګډ جذرونه لري؟

**یادونه)**

که پاسنۍ دوې معادلې یو ګډ جذر ولري، کولی شو دغه جـذر د دوو معـادلو تـرمنځ د دویمـه درجـه برخې په حذفولو سره لاسته راوړو: ښکاره ده چې دغه جذر په پاسنۍ هر یوه معادله کې صدق کوي.
په تولیزه توګه کولی شو په داسې توګه عمل وکړو:

فرضاً وغواړو $\begin{cases}ax^2+bx+c=0\\a'x^2+b'x+c'=0\end{cases}$ $(a,a'\neq 0)$ دوې معادلې یو ګډ جذر ولري. که دغه ګډ جذر $\lambda$ وي په دواړو معادلو کې صدق کوي. سیستم نسبت دوو $\lambda$ او $\lambda^2$ مجهول ته حل کوو:

$$\left.\begin{cases}a\lambda^2+b\lambda+c=0\\a'\lambda+b'\lambda+c'=0\end{cases}\right\rangle\begin{matrix}a'\times\\-a\times\end{matrix}\left.\begin{cases}aa'\lambda^2+ba'\lambda+a'c=0\\-aa'\lambda^2-ab'\lambda-ac'=0\end{cases}\right\rangle$$

$$\lambda\left(ba'-ab'\right)+a'c-ac'=0\Rightarrow\lambda\left(ba'-ab'\right)=ac'-a'c$$

$$\Rightarrow\lambda=\frac{ac'-a'c}{ba'-ab'}$$

$$\Rightarrow \lambda = \frac{ca' - ac'}{ab' - ba'}$$

$$\Rightarrow \lambda^2 = \frac{bc' - cb'}{ab' - ba'}$$

$$if \quad \lambda^2 = \frac{bc' - cb'}{ab' - ba'} \Rightarrow \left(\frac{ca' - ac'}{ab' - ba'}\right)^2 = \frac{bc' - cb'}{ab' - ba'}$$

$$\Rightarrow (ca' - ac')^2 (ab' - ba') = (bc' - cb')(ab' - ba')^2$$

$$\Rightarrow (ca' - ac')^2 = (bc' - cb')(ab' - ba')$$

$$\Rightarrow (ca' - ac')^2 - (bc' - cb')(ab' - ba') = 0$$

$R = (ca' - ac')^2 - (bc' - cb')(ab' - ba') = 0$ افاده د دوو پاسنيو معادلو پايله نوموي او د دوو معادلو د ګډ جذر د موجوديت شرط $R = 0$ دی.

218 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases} 2mx^2 - 5x + 1 = 0 \\ mx^2 + 3x - 5 = 0 \end{cases}$ دوې معادلې ګډ جذر لري؟

219 **مثال)** که $a \neq 1$ وي د $a$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases} x^2 + ax + 1 = 0 \\ x^2 + x + a = 0 \end{cases}$ دوې معادلې يو ګډ جذر لري.

220 **مثال)** که $a > 0$ وي او $\begin{cases} x^2 + 2x + a = 0 \\ x^2 - x - 2a = 0 \end{cases}$ دوې معادلې يو ګډ جذر ولري، دغه جذر کوم دی؟

221 **مثال)** د $a$ کومو قیمتونو ته $\begin{cases} x^2 + ax - 3 = 0 \\ x^2 - 3x + a = 0 \end{cases}$ دوې معادلې يو ګډ جذر لري.

222 **مثال)** $\begin{cases} x^2 + ax + bc = 0 \\ x^2 + bx + ac = 0 \end{cases}$ معادلې په یوه جذر او يوازې يو جذر کې مشترک دي، هغه دويمه درجه معادلې جوړې کړئ چې جذرونه يې مشترک نه وي.

223 **مثال)** لاندې سيستم د $n$ مجهولونو $x_n, \ldots\ldots x_2, x_1$ سره په $a \neq 0$ شرط راکړل شوی.

$$\begin{cases} ax_1^{\,2} + bx_1 + c = x_2 \\ ax_2^{\,2} + bx_2 + c = x_3 \\ \quad\vdots \\ ax^2_{n-1} + bx_{n-1} + c = x_n \\ ax_n^{\,2} + bx_n + c = x_1 \end{cases}$$

دغه سیستم په کوم شرط ځواب نلري؟

په کوم شرط يوازې يو ځواب لري او په کوم شرط له يوه څخه زيات ځوابونه لري؟

### 14. د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې حل او بحث

که پاسنۍ معادله دوه $x_1$ او $x_2$ جذرونه ولري او $(x_2>x_1)$ وي، د $\frac{c}{a}$ لپاره لاندې درې حالتونه په پام کې نيسو او د بېلابېلو مطرح شوو حالتونو په ذريعه، د دويمې درجې معادلې په حل او بحث پيل کوو:

$$1)\ if\ \ \frac{c}{a}<0$$

په دې صورت کې دويمه درجه معادله دوه حقيقي مختلف العلامه جذرونه لري $(x_1<0<x_2)$:

$$\text{I})\ -\frac{b}{a}>0\Rightarrow|x_2|>|x_1|$$

$$\text{II})\ -\frac{b}{a}=0\Rightarrow b=0\Rightarrow ax^2+c=0\Rightarrow ax^2=-c\Rightarrow x^2=-\frac{c}{a}\Rightarrow x=\pm\sqrt{-\frac{c}{a}}$$

$$\text{III})\ -\frac{b}{a}<0\Rightarrow|x_1|>|x_2|$$

په $(\text{I})$ حالت کې د ستر جذر مطلقه قيمت د جذر له مطلقه قيمت څخه کوچنی دی.

په $(\text{II})$ حالت کې معادله دوه متناظر جذرونه لري.

په $(\text{III})$ حالت کې د کوچنی جذر مطلقه قيمت د ستر جذر له مطلق قيمت څخه لوی دی.

$$2)\ if\ \ \frac{c}{a}=0\Rightarrow c=0\Rightarrow ax^2+bx=0\Rightarrow x(ax+b)=0\Rightarrow\begin{cases}x=0\\ x=-\dfrac{b}{a}\end{cases}$$

په دې صورت کې دويمه درجه معادله تل يو له صفر سره مساوي جذر لري.

$$3)\ \ if\ \ \frac{c}{a}>0$$

په دې صورت کې حتماً د معادلې $\Delta$ يا $\Delta'$ محاسبه کوو:

$$\text{I})\ \ if\ (\Delta)\vee(\Delta')>0\Rightarrow\begin{cases}-\dfrac{b}{a}>0\Rightarrow x_2>x_1>0\\ -\dfrac{b}{a}<0\Rightarrow x_1<x_2<0\end{cases}$$

$$\text{II})\ \ if\ (\Delta)\vee(\Delta')=0\begin{cases}-\dfrac{b}{a}>0\Rightarrow x_1=x_2>0\\ -\dfrac{b}{a}<0\Rightarrow x_1=x_2<0\end{cases}$$

$$\text{III})\ if\ \ (\Delta)\vee(\Delta')<0$$

په (I) حالت کې چې $\Delta$ یا $\Delta'$ له صفر څخه لوی ده، که $-\frac{b}{a}>0$ وي، معادله دوه مثبت جذرونه لري او که $-\frac{b}{a}<0$ وي، معادله دوه منفي جذرونه لري.

په (II) حالت کې چې $\Delta$ یا $\Delta'$ مساوي په صفر ده، که $-\frac{b}{a}>0$ وي، معادله یو مثبت مضاعف جذر لري او که $-\frac{b}{a}<0$ وي، معادله یو منفي مضاعف جذر لري.

په (III) حالت کې چې $\Delta$ یا $\Delta'$ له صفر څخه کوچنۍ ده، معادله حقیقي جذر نلري.

لاندې ټکو ته پام وکړئ:

4) د دې لپاره چې د یوه معادلې جذر د بلې معادلې د جذر معکوس وي $\frac{c}{a}=1$ شرط اړین دی.

$$if\ \ \frac{c}{a}=1 \Rightarrow x_1x_2=1 \Rightarrow x_1=\frac{1}{x_2}$$

5) د دې لپاره چې د یوې معادلې جذر د بلې معادلې د جذر معکوس او (متناظر) وي $\frac{c}{a}=-1$ شرط اړین دی.

$$if\ \ \frac{c}{a}=-1 \Rightarrow x_1x_2=-1 \Rightarrow x_1=-\frac{1}{x_2}$$

224 **مثال)** $(1-2x)^2=2x+m^2$ معادله د $m$ بېلابېلو قیمتونو ته څو جذرونه لري؟

225 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته $3x^2-5mx+m^2-4=0$ معادله دوه مختلف العلامه جذرونه لري؟

226 **مثال)** د $a$ کومو قیمتونو ته $x^2-2ax+a+6=0$ معادله دوه منفي جذرونه لري؟

227 **مثال)** د $a$ کومو قیمتونو ته $x^2-2ax+a=0$ معادله دوه مثبت جذرونه لري؟

228 **مثال)** که $ax^2+2x+a^2=0$ معادله دوه مختلف العلامه جذرونه ولري د $a$ حدود ترلاسه کړئ.

229 **مثال)** د $-100x^2+x+57=0$ معادلې له حل کولو پرته د معادلې د جذرونو په موجودیت او علامه یې بحث وکړئ.

230 **مثال)** د $5x^2+35x+2=0$ معادلې له حل کولو پرته، د جذرونو په موجودیت اوعلامه یې بحث وکړئ.

231 **مثال)** د $t$ قیمت داسې وټاکئ چې $x^2+4x+t+2=0$ معادله

لومړی) دوه معکوس جذرونه ولري.

دویم ) دوه متناظر جذرونه ولري.

دریم ) یو مضاعف جذر ولري.

څلورم) یو صفر جذر ولري.

پنځم) دوه منفي جذرونه ولري.

232 **مثال**) که $n$ طبیعي عدد وي، په کوم شرط $n^2+n+37$ ، $n^2+3n+9$ دویمه درجه درې حده‌گان (ترینومونه) دواړه په هم مهاله توګه پر 49 د تقسیم وړتیا لري؟

233 **مثال**) تر ټولو کوچنی $m$ طبیعي عدد ترلاسه کړئ چې د هغه لپاره $0.3<\left\{\sqrt{m}\right\}<\frac{1}{3}$. ولرو.

234 **مثال**) د $x$ کومو ناطقو اعدادو ته $\log_2\left(x^2-4x-1\right)$ افاده له صحیح عدد سره مساوي ده؟ که $5+2^m$ ناطق عدد وي، $x$ هم ناطق عدد دی او بالعکس یې.

235 **مثال**) که $\beta,\alpha$ د $x^2+3x-4m+8=0$ معادلې جذرونه وي، د $m$ کومو قیمتونو ته $A(\alpha,\beta)$ نقطه په دویمه یا څلورمه ناحیه کې راځي؟

236 **مثال**) که $ax^2+b|x|+c=0$ معادله څلور حقیقي جذرونه ولري، د جذرونو د ضرب حاصل یې ترلاسه کړئ.

237 **مثال**) د $a$ کومو قیمتونو ته $x^2-2x+\log_{\frac{1}{2}}a=0$ معادله حقیقي جذرونه لري؟

238 **مثال**) د $m$ کومو قیمتونو ته $\frac{x(x-1)-(m+1)}{(x-1)(m-1)}$ معادله مضاعف جذر لري؟

239 **مثال**) د $m$ کومو قیمتونو ته $\frac{x^2-bx}{ax-c}=\frac{m-1}{m+1}$ معادله دوه متناظر جذرونه لري؟

240 **مثال**) $x^2-4x+3|x-2|+4=0$ معادله څو جذرونه لري؟

## 15. د دویمه درجه افادې د علامې ټاکل

دویمه درجه ترینوم په عمومي توګه په $p=ax^2+bx+c$ شکل ښیو. لومړی $p$ افاده په لاندې توګه مربع کوو:

$$p=ax^2+bx+c\Rightarrow p=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}\right)$$

$$\Rightarrow p=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}-\frac{b^2}{4a^2}+\frac{c}{a}\right)$$

$$\Rightarrow p=a\left[\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2-\frac{b^2-4ac}{4a^2}\right]$$

د $p$ د علامې د ټاکلو لپاره $\Delta=b^2-4ac$ که مثبت، منفي یا صفر وي لاندې حالتونه به ولرو:

I) که $\Delta<0$ وي:

په $p=a\left[\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2-\frac{b^2-4ac}{4a^2}\right]$ افاده کې $\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2-\frac{b^2-4ac}{4a^2}$ افاده تل مثبت ده او د

$p$ علامه د ټولو حقيقي قيمتونو لپاره د $a$ له علامې سره يوشان ده.

| $x$ | $-\infty$        $+\infty$ |
|---|---|
| $p$ | تل له $a$ سره هم علامه ده |

**يادونه)** كه $\begin{cases}\Delta < 0 \\ a > 0\end{cases}$ وي په دې صورت كې ترينوم د ټولو حقيقي قيمتونو لپاره مثبت او $p = ax^2 + bx + c > 0$ ده.

**يادونه)** كه $\begin{cases}\Delta < 0 \\ a < 0\end{cases}$ وي په دې صورت كې ترينوم د ټولو حقيقي اعدادو لپاره منفي او $p = ax^2 + bx + c < 0$ ده.

II) كه $\Delta = 0$ وي:

كه په $P = a\left[\left(x + \frac{b}{2a}\right)^2 - \frac{b^2 - 4ac}{4a^2}\right]$ افاده كې $\Delta = b^2 - 4ac = 0$ شي په دې صورت كې $p = a\left(x + \frac{b}{2a}\right)^2$ چې $\left(x + \frac{b}{2a}\right)^2$ پكې د $x = -\frac{b}{2a}$ لپاره مساوي په صفر او د $x$ پاتې حقيقي قيمتونو ته مثبت دی، په پايله كې $p$ تل له $a$ سره هم علامه ده.

| $x$ | $-\infty$ | $-\frac{b}{2a}$ | $+\infty$ |
|---|---|---|---|
| $P = ax^2 + bx + c$ | له $a$ سره هم علامه | 0 | له $a$ سره هم علامه |

**يادونه)** كه $\begin{cases}\Delta = 0 \\ a > 0\end{cases}$ وي په دې صورت كې درې حده (ترينوم) د $x = -\frac{b}{2a}$ لپاره مساوي په صفر دی او د $x$ پاتې حقيقي قيمتونو ته مثبت دی.

**يادونه)** كه $\begin{cases}\Delta = 0 \\ a < 0\end{cases}$ وي په دې صورت كې درې حده (ترينوم) د $x = -\frac{b}{2a}$ لپاره مساوي په صفر دی او د $x$ پاتې حقيقي قيمتونو ته منفي دی.

III) كه $\Delta > 0$ وي:

كه په $P = a\left[\left(x + \frac{b}{2a}\right)^2 - \frac{b^2 - 4ac}{4a^2}\right]$ افاده كې $\Delta = b^2 - 4ac > 0$ وي، په دې حالت كې د $P$ مزدوج مطابقت پر اساس په لاندې توګه تجزيه كوو:

$$P=a\left(x+\frac{b}{2a}-\frac{\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)\left(x+\frac{b}{2a}+\frac{\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)$$

$$\Rightarrow p=a\left(x+\frac{b-\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)\left(x+\frac{b+\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)$$

د افادې د علامې د ټاکلو لپاره $P$ مساوي په صفر وضع کوو:

$$P=a\left(x+\frac{b-\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)\left(x+\frac{b+\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\right)=0\Rightarrow\begin{cases}x_1=\dfrac{-b+\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\\[2mm] x_2=\dfrac{-b-\sqrt{b^2-4ac}}{2a}\end{cases}$$

1) په $\Delta>0$ , $a>0$ حالت کې(د $x_1>x_2$ په فرضولو سره)

| $x$ | $-\infty$ | | $x_2$ | | $x_1$ | | $+\infty$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $a$ | | + | | + | | + | |
| $x+\frac{b-\sqrt{\Delta}}{2a}$ | | − | | − | 0 | + | |
| $x+\frac{b+\sqrt{\Delta}}{2a}$ | | − | 0 | + | | + | |
| $P$ | | + | 0 | − | 0 | + | |

2) په $a<0, \Delta>0$ حالت کې (د $x_1>x_2$ په فرضولو سره)

| $x$ | $-\infty$ | | $x_2$ | | $x_1$ | | $+\infty$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $a$ | | − | | − | | − | |
| $x+\frac{b-\sqrt{\Delta}}{2a}$ | | − | | − | 0 | + | |
| $x+\frac{b+\sqrt{\Delta}}{2a}$ | | − | 0 | + | | + | |
| $P$ | | − | 0 | + | 0 | − | |

مطلب دا چې:

که $\Delta>0$ وي معادله دوه حقیقي جذرونه لري (که $x_1>x_2$ وي)، د دویمه درجه درې حده افادې د علامې د ټاکلو لپاره د لاندې جدول پر اساس عمل کوو:

| $x$ | $-\infty$ | $x_2$ | | $x_1$ | $+\infty$ |
|---|---|---|---|---|---|
| $P=ax^2+bx+c$ | له $a$ سره هم علامه | 0 | د $a$ مخالف العلامه | 0 | له $a$ سره هم علامه ده |

**مثال**) د لاندې دويمه درجه ترينوم علامې وټاکئ.

241) $P=x^2-3x+2$

242) $P=-3x^2+4x-1$

243) $P=4x^2+4x+1$

244) $P=-x^2-2x-1$

245) $P=x^2+x+1$

246) $P=-x^2+2x-4$

247 **مثال**) که $f(x)=ax^2+bx+c$ او $4ac-b^2>0$ وي، ثبوت کړئ چې $af(x)>0$.

248 **مثال**) که د هر $x$ لپاره $f(x)=ax^2+2bx+c\geq 0$ وي ثبوت کړئ چې:

1) $ac-b^2\geq 0$ 2) $a\geq 0$ 3) $c\geq 0$

## 16. يو مجهوله دويمه درجه نامساوات

**16-1) سريزه**

د هر يو مجهوله دويمه درجه نامساوات عمومي شکل (کله چې ټول حدونه يې د نامساوات يوې خوا ته ولېږدوو) په لاندې يو نه يو ډول دی:

$ax^2+bx+c>0$

$ax^2+bx+c<0$

$ax^2+bx+c\geq 0$

$ax^2+bx+c\leq 0$

چې پکې $a\neq 0$ او $a$، $b$ حقيقي اعداد دي.

د پاسنيو هر يو نامساواتو د حل موخه د هغه ټولو حقيقي اعدادو د سيټ ترلاسه کول دي چې د هغه لپاره نامساوات صدق کوي.

مثلاً د $ax^2+bx+c\leq 0$ نامساوات د حل لپاره لومړی د $P=ax^2+bx+c$ افادې علامه ټاکو، په جدول کې د $P$ علامې له ټاکلو وروسته، منفي برخه او يا صفر د نامساوات د حل سيټ دی.

**1 يادونه**)

$$if\quad x^2\leq a^2\xrightarrow{\text{جذر}}|x|\leq a\Rightarrow -a\leq x\leq a$$

**ثبوت**

| $x$ | $-\infty$ | | $-a$ | | $a$ | | $+\infty$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $x^2-a^2\leq 0$ | | + | 0 | − | 0 | + | |

$x^2\leq a^2\Rightarrow x^2-a^2\leq 0$

$x^2-a^2=0\Rightarrow x^2=a^2\Rightarrow x=\pm a$

$D=[-a,a]$

2 یادونه)

$$if\ \ x^2 \geq a^2 \xrightarrow{\text{جذر}} \begin{cases} x \geq a \\ x \leq -a \end{cases}$$

249 **مثال)** لاندې نامساوات حل کړئ.

249) $x^2+21>10x$ 250) $(x-1)^2 \leq 2x(x-1)$ 251) $x^2-x-12 \geq 0$

252) $x^2 \leq 8x$ 253) $x^2 \geq 36$ 254) $x^2<25$

255) $-x^2+x-2<0$ 256) $x^3-3x^2+3>x$ 257) $x^5+2 \leq 2x^3+x^2$

258) $\left(\frac{2}{3}\right)^{x^2+4x-2} \leq \left(\frac{2}{3}\right)^{2x-3}$ 259) $x^4-11x^2+18<0$

260 **مثال)** که $\beta$ او $\alpha$ د $x^2+3x-4m+8=0$ معادلې جذرونه وي، د $m$ کومو قیمتونو ته $m(\alpha,\beta)$ نقطه په لومړۍ یا درېیمه ناحیه کې دي؟

261 **مثال)** که $n \in N$، وي $2n^2-27n+25<0$ نامساوات څو ځوابونه لري؟

262 **مثال)** د $a$ حدود داسې وټاکئ چې د $x$ ټولو قیمتونو لپاره $\frac{ax^2+2x+a-2}{2x^2+3x+2}>0$ ولرو.

263 **مثال)** ثبوت کړئ چې $(m-1)x^2-3mx+1-m=0$ معادله د $m$ هر حقیقي قیمت ته دوه متفاوت جذرونه لري.

264 **مثال)** د $k$ کومو حقیقي قیمتونو ته،$x^2+(k+2)x+k+2=0$ معادله دوه حقیقي متفاوت جذرونه لري؟

265 **مثال)** که د $m$ ټولو قیمتونو ته $4x^2-2mx+4m^2 \geq 0$ وي، په دې صورت کې د $m$ حدود ترلاسه کړئ.

266 **مثال)** که $a$ او $b$ او $c$ د مثلث اضلاع وي، ثبوت کړئ چې $A=b^2x^2+(b^2+c^2-a^2)x+c^2$ افاده تل مثبت ده.

267 **مثال)** که $a$ او $b$ او $c$ درې حقیقي اعداد وي، ثبوت کړئ د لاندې معادلې جذرونه تل حقیقي دي.

$$(x-a)(x-b)+(x-b)(x-c)+(x-c)(x-a)=0$$

268 **مثال)** ثبوت کړئ چې $(x-1)(x-3)+m(x-2)(x-4)=0$ معادله د $m$ ټولو قیمتونو ته دوه حقیقي جذرونه لري.

269 **مثال)** ثبوت کړئ چې د $a\,(x^2-1)=(b-c)\,x$ معادلې جذرونه تل حقیقي دي.

270 **مثال)** ثبوت کړئ چې د$(a+b)x^2-(a+b+c)x+\frac{c}{2}=0,\ (a,b,c \in R)$ معادلې جذرونه تل حقیقي دي.

271 **مثال)** وښیئ چې $x^2-2ax+3a^2+b^2=0$ معادله حقیقي جذر نلري.

272 **مثال)** ثبوت کړئ چې لاندې معادله حقيقي جذرونه لري.

$(a-b+1)x^2+2x+b-a+1=0$

273 **مثال)** ثبوت کړئ چې $\frac{1}{x-a}+\frac{1}{x-b}=\frac{1}{c^2}$ معادله حقيقي جذرونه لري.

274 **مثال)** د $a$ کومو مثبتو اعدادو لپاره $Ln\,(1+x)\geq x-ax^2$ نامساوات د $x$ ټولو مثبتو او حقيقي قيمتونو ته تل موجود دی؟

275 **مثال)** $c,b,a$ حقيقي اعداد دي او پوهېږو د هر $x\in[-1,1]$ لپاره لرو:

$\left|ax^2+bx+c\right|\leq 1$

ثبوت کړئ چې، د هماغه $x$ د قيمتونو لپاره به ولرو:

$\left|cx^2+bx+a\right|\leq 2$

276 **مثال)** $m$ داسې ترلاسه کړئ چې $\log_a 5+\log_{\frac{1}{3}}\left(\sqrt{ax^2+2x+6}+1\right)\log_a\left(ax^2+2x+7\right)\leq 0$ نامساوات يو ځواب ولري.

277 **مثال)** دهغه صحيح اعدادو شمېر چې په $n^2+5n-6<0$ نامساوات کې صدق کوي څومره دی؟

## 2 – 16) د يو مجهوله دويمه درجه نامساواتو سيستم

که دوه يا څو نامساوات موجود وي او د دې نامساواتو له حل څخه موخه د ځوابونه هغه سيټ ترلاسه کول وي چې نامساوات ته صدق وکړي، د دې سيستم د حل لپاره لومړی هر نامساوات بېل بېل حلوو او د هر نامساوات د ځواب سيټ ترلاسه کوو، وروسته بيا د ترلاسه شوو ځوابونو تقاطع د نامساواتو د سيستم د ځوابونو سيټ ګڼل کېږي.

**مثال** د لاندې نامساواتو سيستم حل کړئ.

278) $\begin{cases}5x^2-7x>0\\ x^2-11x+30<0\end{cases}$

279) $\begin{cases}x^3-11x^2+10x>0\\ x^3-12x^2+32x>0\end{cases}$

280 **مثال)** د $m$ حدود داسې وټاکئ چې $A\left(m^2-1,-2m^2+7m-3\right)$ نقطه د مختصاتو د سيستم په دويمه ناحيه کې راشي.

281 **مثال)** $m$ داسې وټاکئ چې $(m-3)x^3-(2m+1)x+m-1<0$ نامساوات د $x$ ټولو قيمتونو ته صدق وکړي.

282 **مثال)** د $m$ حدود داسې وټاکئ ترڅو $A=mx^2-2(m-2)x+1$ تل مثبت وي.

283 **مثال)** که $r,q,p,c,b,a$ مثبت حقيقي اعداد وي او د هر حقيقي $x$ لپاره $ax^2+2bx+c\geq 0$ , $px^2+2qx+r\geq 0$ وي. ثبوت کړئ چې $aPx^2+2bqx+cr\geq 0$ دی.

284 **مثال)** $A=(5-a)x^2+2(a-1)x+2-2a$ افاده تل منفي ده، د $a$ حدود ترلاسه کړئ.

285 **مثال)** د $f(x)$ دويم درجه ترينومونو ترمنځ تر ټولو ستر واحد درجه لرونکی ضريب پيدا کړئ،

چې د هغه لپاره $|f(x)|$ حد اکثر مقدار په $[-1,1]$ انټروال کې تر ټولو ټيټ ممکنه مقدار وي.

286 **مثال**) د $x$ کومو ناطق قيمتونو ته $\sqrt{8x^2-2x-3}$ افاده ناطق قيمت لري؟

## 17. د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې له جذرونو سره د يو عدد $(P)$ پرتله

فرضوو $f(x)=ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادله دوه $x_2, x_1$ حقيقي او متفاوت جذرونه لري.

د $f(x)$ علامه د دوو جذرونو ترمنځ قيمتونو لپاره د $a$ له علامې سره مخالفه ده.

که $p$ د دوو جذرونو ترمنځ يو عدد وي د $f(p)$ قيمت د $a$ د علامې مخالف دی، نو ځکه $a.f(p)<0$ کېږي.

برعکس که $a.f(p)<0$ وي، په دې صورت کې $p$ د معادلې د دوو جذرونو ترمنځ ده او معادله تل دوه جذرونه لري او $p$ له هېڅ يوه جذر سره مساوي نه ده.

که $a.f(p)>0$ وي په دې صورت کې $p$ له دوو جذرونو څخه بهر ده.

$$-\frac{b}{2a}=\frac{1}{2}\left(-\frac{b}{a}\right)=\frac{1}{2}(x_1+x_2)\,,\ \ x_2>x_1$$

$$-\infty<x_1<\frac{1}{2}(x_1+x_2)<x_2<+\infty \Rightarrow -\infty<x_1<-\frac{b}{2a}<x_2<+\infty$$

$$if\ \ \ p+\frac{b}{2a}>0 \Rightarrow p>-\frac{b}{2a} \Rightarrow p\in(x_2,\,+\infty)$$

$p$ له دوو جذرونو څخه بهر او له دواړو جذرونو څخه ستره ده.

$$if\ \ p+\frac{b}{2a}<0 \Rightarrow p<-\frac{b}{2a} \Rightarrow p\in(-\infty,x_1)$$

$p$ له دوو جذرونو څخه بهر او له دواړو جذرونو څخه کوچنۍ ده.

په لنډه توګه لرو چې:

که $f(x)=ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه دوه مجهوله معادله چې $\Delta>0$ دی او معادله تل دوه متفاوت جذرونه لري او $p$ له جذرونو څخه بېل او حقيقي عدد وي، په دې صورت کې $(x_2>x_1)$

I) که $a\cdot f(p)<0$ وي په دې صورت کې $p$ د دوو جذرونو ترمنځ ده: $(x_1<p<x_2)$

II) که $a\cdot f(p)>0$ وي په هغه صورت کې $p$ له دوو جذرونو څخه بهر ده:

$p$ له دوو جذرونو څخه بهر او ترې ستره ده $(x_1<x_2<p)$ $\quad if\ \ p+\frac{b}{2a}>0$

$p$ له دوو جذرونو څخه بهر او ترې کوچنۍ ده $(p<x_1<x_2)$ $\quad if\ \ p+\frac{b}{2a}<0$

287 **مثال**) د $m$ حدود داسې وټاکئ چې 1 عدد د $mx^2-2x-1=0$ معادلې د دوو جذرونو ترمنځ يو عدد وي.

**18. د $ax^2+bx+c=0$ دويمه درجه معادلې له جذرونو سره د دوو $p,q$ اعدادو پرتله**

فرضوو $f(x)=ax^2+bx+c=0$ معادله دوه $x_2,x_1$ حقيقي او متفاوت جذرونه لري چې $x_2>x_1$ دي.

که $q,p$ دوه فرض شوي حقيقي اعداد وي او فرض کړو $(p<q)$ وي، له $q,p$ اعدادو سره د معادلې د جذرونو پرتله کولو لپاره، له يوه عدد سره د دوو جذرونو د پرتله کولو په شان عمل کوو.

I) $\left\{\begin{matrix} a\ f(p)>0 \\ a\ f(q)<0 \end{matrix}\right\rangle p<x_1<q<x_2$ — $p$ له دوو جذرونو بهر او $q$ د دوو جذرونو ترمنځ ده

II) $\left\{\begin{matrix} a\ f(p)<0 \\ a\ f(q)>0 \end{matrix}\right\rangle x_1<p<x_2<q$ — $p$ د دوو جذرونو ترمنځ او $q$ له دوو جذرونو بهر ده

يادونه) د دې لپاره چې د $f(x)=ax^2+bx+c=0$ معادلې يو جذر د دوو $p,q$ اعدادو ترمنځ وي، اړينه او کافي ده چې:

$$a^2 f(p)f(q)<0\Rightarrow f(p)f(q)<0$$

III) $\left\{\begin{matrix} a\ f(p)<0 \\ a\ f(q)<0 \end{matrix}\right\rangle x_1<p<q<x_2$ — $p$ او $q$ د دوو جذرونو ترمنځ دي

IIII) $\left\{\begin{matrix} a\ f(p)>0 \\ a\ f(q)>0 \end{matrix}\right\rangle$ — $p$ او $q$ له دواړو جذرونو لوی يا کوچنی دي

$$if\ \ p<-\frac{b}{2a} => p<q<x_1<x_2$$

$$if\ \ p>-\frac{b}{2a}\Rightarrow x_1<x_2<p<q$$

$$if\ \ p<-\frac{b}{2a}<q\Rightarrow p<x_1<x_2<q$$

288. **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته د $x^2-(m-1)x+2=0$ معادلې يو جذر د $-1,2$ دوو اعدادو ترمنځ واقع دی؟

289. **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته د $(2m-1)x^2-2x+m-3=0$ معادلې يو جذر د $-1,1$ دوو اعدادو ترمنځ واقع دي؟

290. **مثال)** ثبوت کړئ چې د $a>c$ او $b>d$ لپاره تل لرو چې $(a+b+c+d)^2>8(ad+bc)$ .

291. مثال) $\frac{1}{x}+\frac{1}{x-a}+\frac{1}{x+b}=0$ معادله فرضوو او پوهېږو چې $b,a$ مثبت اعداد دي. ثبوت کړئ چې دغه معادله تل دوه حقيقي جذرونه لري چې يو يې د $\frac{a}{3}$ او $\frac{2a}{3}$ او دويم يې د $-\frac{2b}{3}$ او $-\frac{b}{3}$ ترمنځ واقع دی.

292. **مثال)** د $x_1$ $ax^2+bx+c=0$ معادلې يو جذر او د $x_2$ $-ax^2+bx+c=0$ معادلې يو جـذر او $x_3$ د $\frac{a}{2}x^2+bx+c=0$ معادلې يو جذر دی ثبوت کړئ چې $x_2\le x_3\le x_1$ يا $x_1\le x_3\le x_2$ دي.

## 19. د $P,S$ په کارولو سره د دويمه درجه درې حده (ترينوم) تجزيه

I) که $ax^2+bx+c=0$ معادله دوه $x_2,x_1$ متفاوت جذرنه ولري، په دې صورت کې:

$$ax^2+bx+c=a(x-x_1)(x-x_2)=0$$

**ثبوت**

فرضـوو چـې $\Delta=b^2-4ac>0$ وي پـه دې صـورت کـې $ax^2+bx+c=0$ معادلـه دوه $x_1$ او $x_2$ متفاوت جذرونه لري چې:

$$x_1+x_2=-\frac{b}{a},\ x_1x_2=\frac{c}{a}$$

$$\begin{aligned}
ax^2+bx+c&=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}\right)\\
&=a\left[x^2-\left(-\frac{b}{a}\right)x+\frac{c}{a}\right]\\
&=a\left[x^2-(x_1+x_2)x+x_1x_2\right]\\
&=a\left[x^2-xx_1-xx_2+x_1x_2\right]\\
&=a\left[(x^2-xx_1)-(xx_2-x_1x_2)\right]\\
&=a\left[x(x-x_1)-x_2(x-x_1)\right]\\
&=a\left[(x-x_1)(x-x_2)\right]\\
&=a(x-x_1)(x-x_2)
\end{aligned}$$

II) که $ax^2+bx+c=0$ معادله يو $x_1$ دوه ګونی جذر ولري په دې صورت کې:

$$ax^2+bx+c=a(x-x_1)^2$$

**ثبوت**

که $\Delta=b^2-4ac=0$ وي پاسنۍ معادله يو $x_1$ ته ورته دوه ګونی جذر لري.

$$b^2-4ac=0\Rightarrow b^2=4ac\Rightarrow c=\frac{b^2}{4a},\ x_1=\frac{b}{2a}$$ دوه ګونی جذر

$$\begin{aligned}
ax^2+bx+c&=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}\right)\\
&=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}\right)
\end{aligned}$$

$$=a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2$$

$$=a\left(x-\left(-\frac{b}{2a}\right)\right)^2$$

$$=a\left(x-x_1\right)^2$$

**يادونه)** د دې لپاره چې يو درېيمه درجه درې حده په صحيح ضريب لرونکو څو افادو تجزيه شي، اړينه ده چې د معادلې مبين کامل مربع وي.

**مثال)** لاندې افادې تجزيه کړئ.

293) $A=4x^2-16x+15$ 294) $B=9x^2-6x+1$

295 **مثال)** د $a$ مقدار داسې وټاکئ چې وکولی شو $(x-a)(x-10)+1$ افاده په $(x+b)(x+c)$ توګه وليکو.

( $c,b$ ثبوت اعداد دی).

## 20. هغه معادلې چې په دويمه درجه معادلو د اوښتلو وړتيا لري

### 20 – 1) دوه مجذوري (مربع لرونکې) معادلې

د هرې دوه مجذوري معادلې عمومي شکل په $ax^4+bx^2+c=0$ توګه دی. د پاسنۍ معادلې د حل لپاره $x^2$ له $y$ سره مساوي وضع کوو $(x^2=y)$ معمولاً $y$ ته **(مرستيال مجهول)** وايي.

د $x^2=y$ په فرضولو سره پاسنۍ معادله په $ay^2+by+c=0$ معادله اوړي چې هغه ته **(حل کېدونکې معادله)** وايي.

د دې معادلې حل او بحث په لاندې توګه دی:

1) $\Delta<0$: معادله حقيقي جذر نلري.

2) $\Delta=0$: معادله دوه دوه ګوني جذرونه لري چې د يو بل معکوس دي.

3) $\Delta>0$:

$$if\ \ \frac{c}{a}>0,-\frac{b}{a}>0$$

پاسنۍ معادله د $y=x^2$ لپاره دوه مثبت جذرونه لري، نو د $x$ لپاره څلور ځوابونه لري چې دوه پر دوه $-\beta,-\alpha,\alpha,\beta$ د يو بل متناظر دي.

$$if\ \ \frac{c}{a}>0\ ,-\frac{b}{a}<0$$

پاسنۍ معادله د $y=x^2$ لپاره دوه منفي جذرونه لري، په پايله کې $x$ حقيقي جذر نلري.

$$if\ \ \frac{c}{a}<0$$

پاسنۍ معادله د $y=x^2$ لپاره دوه مختلف العلامه جذرونه لري، په پايله کې $x$ دوه متناظر جذرونه لري.

1 **يادونه**) په هغه حالت کې چې $-\frac{b}{a}>0,\ \frac{c}{a}>0,\ \Delta>0$ وي معادله څلور څوابونه $-\beta,-\alpha,\beta,\alpha$ لري چې دوه پر دوه د يو بل متناظر دي:

هغه شرط چې په دې حالت کې د معادلې جذرونه هندسي تصاعد جوړ کړي دا دی چې:

$9b^2=100ac$

**ثبوت**

$$:-\beta,-\alpha,\alpha,\beta\Rightarrow -2\alpha=\alpha-\beta$$

$$\Rightarrow\beta=3\alpha$$

$$p=(-\beta)(-\alpha)(\alpha)(\beta)=\frac{c}{a}\Rightarrow\alpha^2\beta^2=\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow\alpha^2(3\alpha)^2=\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow 9\alpha^4=\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow\alpha^4=\frac{1}{9}\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow\alpha^2=\frac{1}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}$$

$\alpha$ د معادلې جذر دی او په معادله کې صدق کوي.

$$ax^4+bx^2+c=0\xrightarrow{x=\alpha}a\alpha^4+b\alpha^2=0\Rightarrow a\left(\alpha^2\right)^2+b\alpha^2+c=0$$

$$\Rightarrow a\left(\frac{1}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}\right)^2+b\left(\frac{1}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}\right)+c=0$$

$$\Rightarrow\frac{a}{9}\left(\frac{c}{a}\right)+\frac{b}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}+c=0$$

$$\Rightarrow\frac{c}{9}+c=-\frac{b}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}$$

$$\Rightarrow\frac{10c}{9}=-\frac{b}{3}\sqrt{\frac{c}{a}}$$

$$\Rightarrow\frac{100c^2}{81}=\frac{b^2}{9}\frac{c}{a}$$

$$\Rightarrow \frac{100c}{9}=\frac{b^2}{9}$$

$$\Rightarrow 9b^2=100\,ac$$

**2 يادونه)** هره هغه معادله چې په $n\in N, ax^{2n}+bx^n+c=0$ شکل وي، د $y=x^n$ په فرضولو سره د حل کېدو وړتيا لري، ځکه د $y$ پر اساس پر دويمه درجه معادله په تبديلېدلو سره په $ay^2+by+c=0$ اوړي.

**مثال)** لاندې معادلات حل کړئ، بحث پرې وکړئ او ځواب يې ترلاسه کړئ.

296) $x^4-6x^2+9=0$

297) $x^4-5x^2+4=0$

298) $x^4+5x^2+4=0$

299) $x^4+3x^2-4=0$

300) $2x^4-13x^2-45=0$

301) $16x^8-17x^4+1=0$

302) $x^4-13x^2+36=0$

303) $x^6-19x^3-216=0$

304) $(x+1)^4-13(x+1)^2+36=0$

305) $(x+1)^6+20=9(x+1)^3$

306) $(x^2-4x+5)^2-(x-1)(x-3)=4$

307 **مثال)** د $m$ کومو قيمتونو ته $x^4-mx^2+2m=0$ معادله څلور حقيقي او متفاوت جذرونه لري؟

308 **مثال)** $x^4+2x^2=m^2+1$ معادله څو حقيقي جذرونه لري ؟

309 **مثال)** که د $x^4-10x^2+9(m-1)=0$ معادلې جذرونه هندسي تصاعد جوړ کړي د $m$ قيمت ترلاسه کړئ.

310 **مثال)** $c$ منحني $y^4-3xy+2=0$ معادله (د دويمې مربعې ناصف) په څو نقطو کې قطع کوي.

311 **مثال)** ثبوت کړئ چې که د $x^4+px^2+q=0$ معادلې جذرونه يو عددي تصاعد جوړکړي په دې صورت کې $\sqrt{q}=\frac{3}{10}p$ دی.

## 2 – 20) معکوسې معادلې

### 1) مثبې معکوسې معادلې

هغه معادلې ته مثبت معکوس وايو چې که $\alpha$ يې يو جذر وي نو $\frac{1}{\alpha}$ يې دويم جذر وي. په بل عبارت مثبته معکوسه معادله هغه ده چې پر $x$ د $\frac{1}{x}$ په اړولو سره خپله معادله هم واوړي.

مثلاً $ax^4+bx^3+cx^2+bx+a=0$ معادله مثبته معکوسه معادله ده.

که مثبته معکوسه معادله تاق درجه ولري، حتماً 1 يا $1-$ جذر لري، ځکه دغه دوه عددونه يوازې هغه عددونه دي چې له خپل معکوس سره مساوي دي. په دې اساس د مثبتې معکوسې معادلې کيڼ لوری هغه مهال تاق درجه لري چې پر $x-1$ يا $x+1$ د تقسيم وړتيا ولري چې پر معادلې له تقسيم وروسته

جفت درجه ترلاسه کوو.
له دې سريزې څخه ښکاري چې د معکوسې معـادلې د حـل پـه بحـث کـې، اړينـه ده د جفتـو معکوسـو معادلو په حل پيل وکړو.

## 2) منفي معکوسې معادلې

هغه معادلې ته منفي معکوسه معادله ويل کېږي چې که $\alpha$ يې يو جـذر وي نـو $-\frac{1}{\alpha}$ يـې دويـم جـذر دی. په بل عبارت منفي معکوسه معادله هغه معادله ده چې پر $-\frac{1}{x}$ د $x$ له اړولو سره خپله هم واوړي.
مثلاً $ax^4+bx^3+cx^2-bx+a=0$ معادله منفي معکوسه معادله ده. منفي معکوسه معادلـه نشـې کېدلی چې تاق درجه وي، مثلاً کـه $ax^3+bx^2+cx+d=0$ معادلـه منفـي معکوسـه معادلـه وي، لـرو چې:

$$(\text{I})\ ax^3+bx^2+cx+d=0$$

$$(\text{II})\ \ x\Rightarrow -\frac{1}{x}\Rightarrow a\left(-\frac{1}{x}\right)^3+b\left(-\frac{1}{x}\right)^2+c\left(-\frac{1}{x}\right)+d=0 => -\frac{a}{x^3}+\frac{b}{x^2}+\frac{c}{x}+d=0$$

$$\Rightarrow dx^3-cx^2+bx-a=0$$

د دې لپاره چې $(\text{I}),(\text{II})$ معادلې معادل وي، بايد ولرو چې:

$$\frac{a}{d}=-\frac{d}{a}\Rightarrow a^2=-d^2\Rightarrow \quad \text{غير ممکن دی}$$

له دې سريزې سره پوهېږو چې د معکوسو معادلو د حل په مبحث کې د جفتو معکوسو معادلو حل بايد پيل کړو:

## 3) معکوسې جفت معادلې

لاندې معادلې چې $2n$ درجه دي په پام کې نيسو:

$$(\text{I})ax^{2n}+bx^{2n-1}+cx^{2n-2}+\ldots+fx^n+\ldots+mx^2+nx+p=0$$

د دې لپاره چې دغه معادلې مثبتې معکوسې وي، بايد پر $\frac{1}{x}$ د $x$ له تبـديل سره بـدلون ونـه مـومي لـه دې تبديل سره لاندې معادلې ته رسېږو:

$$(\text{II})\ px^{2n}+nx^{2n-1}+mx^{2n-2}+\ldots+fx^n+\ldots+cx^2+bx+a=0$$

د دې لپاره چې $(\text{I}),(\text{II})$ معادلې معادل وي، بايد متناسب ضريبونه ولرو، يعنې:

$$\frac{a}{p}=\frac{b}{n}=\frac{c}{m}=\ldots=\frac{f}{f}=\ldots=\frac{m}{c}=\frac{n}{b}=\frac{p}{a}\Rightarrow a=p,b=n\ ,\ c=m,\ldots..$$

- ❖ ددې لپاره چې معادله مثبته معکوسه وي، بايـد د مسـاوي واټـن لرونکـو حـدونو ضريبونـه لـه دواړو خواوو سره مساوي وي.
- ❖ په منفي معکوسه معادله کې، کله چې تر ټولو ستر توان د 4 مضرب وي، د جفت توانونـو ضريبونـه

له دواړو خواوو له يوه بل سره مساوي دي او د تاق توانوو ضريبونه له دواړو خواوو د يوه بل معکوس دي.

❖ کله چې تر ټولو ستر توان د 4 مضرب نه وي، يعنې پر 4 له تقسيم څخه يې 2 باقيمانده پاتې شي، د جفت توان لرونکي ضريبونه له دواړو خواوو د يوه بل معکوس دي او د تاق توان لرونکي ضريبونه له دواړو خواوو مساوي دي.

❖ د مثبتو معکوسو معادلو په حل کې له $\left(x+\frac{1}{x}\right)$ څخه او د منفي معکوس معادلو په حل کې له $\left(x-\frac{1}{x}\right)$ څخه د مرستندويه مجهول په توګه ګټه اخيستل کېږي.

❖ د دې معادلو د حل لپاره که $n$ جفت وي $(n=2k)$ په دې صورت کې دواړې خواوې په $k$ تقسيموو، د مناسب مرستيال مجهول په ټاکلو سره معادله حل کوو (که د حل وړتيا ولري).

د دې معادلو د حل لپاره که $n$ تاق وي $x=-1$ د دې معادلې يو جذر دی چې پر $x+1$ باندې يې له تقسيم وروسته جفت درجه لرونکې معکوسه معادله ترلاسه کېږي که د حل وړتيا ولري، ټول جذرونه يې مشخصولی شو.

**مثال)** لاندې معادلات حل کړئ.

312) $2x^4-13x^3+24x^2-13x+2=0$

313) $3(x^3-1)-13x(x-1)=0$

314) $x^4-3x^3-6x^2+3x+1=0$

315) $(2x^2-3x+1)(2x^2+5x+1)=9x^2$

316) $(6-x)^4+(8-x)^4=16$

317) $3\left(x^2+\frac{1}{x^2}\right)-7\left(x+\frac{1}{x}\right)=0$

318) $(x+2)^4+(x+5)^4=17$

319) $(x+1)^3-(x-2)^3=63$

320) $2x^4-5x^3+5x-2=0$

321) $2x^4-x^3-6x^2-x+2=0$

322) $6x^6-5x^5-32x^4-10x^3-32x^2-5x+6=0$

323) $x^5-3x^4-11x^3+11x^2+3x-1=0$

324) $\frac{4x}{x^2+x+3}+\frac{5x}{x^2-5x+3}=-\frac{3}{2}$

325 **مثال)** فرض کړئ $b,a$ دوه هغه حقيقي اعداد وي چې $x^4+ax^3+bx^2+ax+1=0$ معادله لږ تر لږه يو حقيقي جذر ورته ولري. دټولو $(a,b)$ جوړو لپاره د $a^2+b^2$ افادې $\min$ قيمت ترلاسه کړئ.

## 21. د دويمه درجه رابطې ګراف

### $21-1$) سريزه

د دوو متغيرونو ترمنځ اړيکه چې وکولی شو يو يې د هغه بل د دويمه درجه پولينوم په توګه وښيو؛ دويمه درجه رابطه نومېږي.

هغه دويمه درجه رابطه چې پکې $y$ لومړۍ درجه او $x$ دويمه درجه وي، کولی شو په

$y=a(x-x_0)^2+y_0$ توګه واړوو چې په هغه کې $x_0, a\neq 0$ او $y_0$ حقيقي اعداد دي.
د دې رابطې هندسي ګراف هغه شکل دی چې پارابولا ورته وايی.

**2 − 21) په عمومي حالت کې د پارابولا معادله**

په عمومي توګه پارابولا معادله په $y=a(x-x_0)^2+y_0$ توګه ده، چې په هغه کې $a\neq 0$ دی.
د پارابولا ګراف د نقطو په ذريعه رسموو.
$A(x_0, y_0)$ نقطې ته د پارابولا **راس** وايي.
$x=x_0$ خط ته دپارابولا **د تناظر خط** وايي.
که $a>0$ وي، $A(x_0, y_0)$ نقطه د پارابولا اصغري نقطه ده او که $a<0$ وي $A(x_0, y_0)$ نقطه د پارابولا معادلې اعظمي ده.

326 **مثال)** د $y=2(x-1)^2+2$ پارابولا ګراف رسم کړئ.

327 **مثال)** د $y=x^2+2x+1$ پارابولا ګراف رسم کړئ.

328 **مثال)** د $y=x^2-2x-3$ پارابولا ګراف رسم کړئ.

**3 − 21) د $y=ax^2+bx+c$ معادلې راس او د تناظر خط**

د پارابولا راس $A\left(-\frac{b}{2a}, \frac{4ac-b^2}{4a}\right)$ نقطه او د تناظر خط یې $x=-\frac{b}{2a}$ دی چې په لاندې توګه د محاسبې وړ دي.

$$y=a\left(x^2+\frac{b}{a}x\right)+c \Rightarrow y=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}-\frac{b^2}{4a^2}\right)+c$$

$$\Rightarrow y=a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}\right)+c-\frac{b^2}{4a}$$

$$\Rightarrow y=a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2+\frac{4ac-b^2}{4a}$$

لاندې سيستم ته په کتو سره:

$$\begin{cases} y=a(x-x_0)^2+y_0 \\ y=a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2+\frac{4ac-b^2}{4a} \end{cases} \Big\rangle\, a(x-x_0)^2+y_0 \equiv a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2+\frac{4ac-b^2}{4a}$$

329 **مثال)** په لاندې پارابول کې $n, m, y=x^2+mx+n$ کوم قيمت غوره کړي تر څو $x=-1$ خط د پارابول د تناظر خط شي.

330 **مثال)** $y=-\frac{5}{2}$ خط د $y=\frac{1}{2}x^2-3x+a$ پارابول د تناظر محور په خپله د پارابولا پرمخ قطع

کوي، د $a$ مقدار ترلاسه کړئ.

331 **مثال)** د $m$ کومو قیمتونو ته $S(m,m-2)$ نقطه د $y=x^2-2x$ پارابول راس دی؟

332 **مثال)** که د $y=ax^2+2ax-3$ پارابول راس د لومړۍ او درېیمې ناحیې پر ناصف پروت وي د $a$ مقدار ترلاسه کړئ.

**4–21) د $ax^2+bx+c=0$ دویمه درجې معادلې د جذرونو او د پارابول د ګراف ترمنځ اړیکه**

I) که $\Delta>0$ وي معادله دوه حقیقي متفاوت جذرونه لري او $y=ax^2+bx+c$ پارابول طولي محور په دوو نقطو کې قطع کوي چې ددې نقطو طول د معادلې جذرونه دي.

II) که $\Delta=0$ وي معادله یو مضاعف جذر لري او $y=ax^2+bx+c$ پارابول له طولي محور سره په یوه نقطه کې مماس دی، چې د تماس نقطې طول د معادلې مضاعف جذر دی.

III) که $\Delta<0$ وي معادله حقیقي جذر نلري او $y=ax^2+bx+c$ پارابول طولي محور نه قطع کوي.

## 22. په دویمه درجه درې حده کې اکسترمم

**I) د دویمه درجه درې حده د تعریف ناحیه او د قیمتونو ناحیه**

$f(x)=ax^2+bx+c$ دویمه درجه افادې په پام کې نیسو، ښکاره ده چې $x$ کولی شي هر حقیقي قیمت غوره کړي، $(x\in R)$ تابع د د قیمتونو د ناحیې د ترلاسه کولو لپاره کولی شو له بېلابېلو طریقو کار واخلو.

**لومړۍ طریقه:**

$$f(x)=ax^2+bx+c\Rightarrow ax^2+bx+c-f(x)=0$$

پاسني معادلات د $f(x)$ پارامتري والي ته په پام سره دویمه درجه دي اوهغه مهال حقیقي جذرلري چې:

$$\Delta\geq 0\Rightarrow b^2-4ac\geq 0$$
$$\Rightarrow b^2-4(a)(c-f(x))\geq 0$$
$$\Rightarrow b^2-4ac+4af(x)\geq 0$$
$$\Rightarrow 4af(x)\geq 4ac-b^2$$

$$if\ a>0\Rightarrow f(x)\geq\frac{4ac-b^2}{4a}$$

$$if\ a<0\Rightarrow f(x)\leq\frac{4ac-b^2}{4a}$$

د دې پایلې هندسي تعبیر روښانه دی، د $y=ax^2+bx+c$ پارابول په $a<0$ حالت کې نسبي max لري او په $a>0$ کې نسبي min لري چې له $x=-\frac{b}{2a}$ څخه ترلاسه کېږي.

په پارابول کې د تابع نسبي max, او min پر مطلق max او min منطبق دي. (په دې شرط چې د

پارابول محور له عرضي محور سره موازي وي).

**دویمه طریقه:**

$$if\ f(x)=ax^2+bx+c\Rightarrow a\left(x^2+\frac{b}{a}x+\frac{c}{a}\right)=a\left[x^2+\frac{b}{a}x+\frac{b^2}{4a^2}+\frac{c}{a}-\frac{b^2}{4a^2}\right]$$

$$=a\left[\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2+\frac{4ac-b^2}{4a^2}\right]$$

$$if\ a>0\Rightarrow a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2\geq 0\Rightarrow f(x)\geq\frac{4ac-b^2}{4a}$$

دغه حداقل مقدار له، $x=-\frac{b}{2a}$ څخه ترلاسه کېږي.

$$if\ a<0\Rightarrow a\left(x+\frac{b}{2a}\right)^2\leq 0\Rightarrow f(x)\leq\frac{4ac-b^2}{4a}$$

او دغه حداکثر مقدار، له $x=-\frac{b}{2a}$ ترلاسه کېږي.

II) **د** $f(x)=\sqrt[n]{ax^2+bx+c}$ **د اکسترمم محاسبه د تعریف د ناحیې او د قیمتو د ناحیې له مخې یې**

د تابع د قیمت د ناحیې له ترلاسه کولو څخه یې اکسترمم مقدار ترلاسه کېږي.

کله چې $n$ تاق عدد وي $x$ کولی شي هر حقیقي قیمت وي، $x\in R$ .

کله چې $n$ جفت عدد وي د دامنې د ترلاسه کولو لپاره باید د تر جذر لاندې دویمه درجه افادې علامه وټاکل شي.

**مثال)** د لاندې تابعګانو د مقدارونو حد اکثر او حد اقل ترلاسه کړئ.

333) $f(x)=\sqrt[3]{-x^2+2x+4}$

334) $f(x)=\sqrt{-x^2+x+1}$

335 **مثال)** د $y=(x-5)(x-1)(x-6)(x-2)+9$ افادې حد اقل مقدار ترلاسه کړئ.

336 **مثال)** د $y=\frac{\tan 3x}{\tan^3 x},\left(0<x<\frac{\pi}{2}\right)$ نسبي $\min, \max$ ترلاسه کړئ.

337 **مثال)** د $z,y,x$ حقیقي اعدادو لپاره پوهېږو چې $\begin{cases}x+y+z=2\\ xy+xz+yz=1\end{cases}$ دی، حداقل او حد اکثر قیمت چې هر یو له دغه دریو اعدادو څخه کولی شي ځانته یې غوره کړي ترلاسه یې کړئ.

338 **مثال)** $A$ نقطه د $y=x^2$ پارابول پرمخ ټاکو او له دوو $O(0,0)$ او $B(a,a^2)$ نقطو سره یې نښلوو $A$ نقطه څرنګه وټاکو چې د $OA$ او $AB$ پارابولونه قطعه د مساحتونو مجموعه حد اقل ممکن مقدار وي.

339 **مثال)** د $y=\sqrt{\dfrac{(x-2)^2+4}{x^2+4}}$ تابع حد اکثر او حد اقل مقدار ترلاسه کړئ.

340 **مثال)** $\dfrac{1}{12}=\dfrac{1}{x^2+2x}-\dfrac{1}{(x+1)^2}$ معادله حل کړئ.

341 **مثال)** که $ab^2+1=0\ ,abc\neq 0$ وي لاندې معادله حل کړئ.

342 **مثال)** که $\alpha$ او $\beta$ د $x^2+px+q=0$ معادلې جذرونه وي، وښيئ چې $q, p$ د لاندې معادلې جذرونه دي:

$$x^2+(\alpha+\beta-\alpha\beta)-\alpha\beta(\alpha+\beta)=0$$

## ځوابونه

1 ځواب)

$$2x^2 - 8 = 0 \Rightarrow 2x^2 = 8$$
$$\Rightarrow x^2 = \frac{8}{2}$$
$$\Rightarrow x^2 = 4$$
$$\Rightarrow x = \pm\sqrt{4}$$
$$\Rightarrow x = \pm 2$$

2 ځواب)

$$-9x^2 + 27 = 0 \Rightarrow -9x^2 = -27$$
$$\Rightarrow x^2 = \frac{-27}{-9}$$
$$\Rightarrow x^2 = 3$$
$$\Rightarrow x = \pm\sqrt{3}$$

3 ځواب)

$$4x^2 + 16 = 0 \Rightarrow 4x^2 = -16$$
$$\Rightarrow x^2 = -\frac{16}{4}$$
$$\Rightarrow x^2 = -4$$
$$\Rightarrow x \neq \pm\sqrt{-4}$$

تر جذر لاندې منفي عدد د حقیقي اعدادو په حوزه کې نه دی تعریف شوی، یعنې معادله حقیقي ځواب نلري. ددې علت دا دی چې $a = 4$ او $c = 16$ مختلف العلامه نه دي.

4 ځواب)

$$3x^2 - 5 = 70 \Rightarrow 3x^2 = 75$$
$$\Rightarrow x^2 = \frac{75}{3}$$
$$\Rightarrow x^2 = 25$$
